دمذهب په جامه کی داستعمار مزدوران

Rs = 25

دمذهب په جامه

کی

داستعمار مزدوران

PROPERTY OF
ACKU
19205

مشخصات

دکتاب نوم : دمذهب په جامه کی داستعمار مزدوران

لیکونکي : انګلیسي جاسوسي

مخونه : ۹٦

دکتاب سایز : ۱۳ × ۲۱

خپرونکی : دملامشك عالم خپرونی

لومړی چاپ ۱۳٦۹

بسم الله الرحمن الرحيم

مقدمه

دمذهب په جامه کي داستعمار مزدوران

زمونږ پر اسلامی هیواد تل سیاسی استبدادی نظامونو واکمنی کړی او دغو انسانی ضد نظامونو ټولنه راایساره او تړلی ساتلی چی نوموړی حالت د افغانستان ټولنی ته زیانونه او ګټی دواړه رسولی دی . د زیانونوله جملی یی دادی چی سیاسی واکمنی دیو وګړی یا کورنی پلاس کی وه او خلك په سیاسی فعالیتونو کی له ګډون او د خپل سرنوشت له ټاکنی بی برخی وو . نوپدی توګه د خلکو د اقتصادی پرمختګ او ټولنیز تکامل مخنیوی شوی وه چی همدا اوس هیواد د دنیستمنو هیوادونو په په کتار کي ولاړ دی خو لدی زیان سر بیره یوه ګټه یی هم هیوادوالو ته رسولی او هغه دا چی : په سلوکي له لسو (ښارمیشتو) خلکو نه سر بیره نور ټول هیوادوال د ختیځ او لویدیځ د استعمار له فرهنګی او فکری یرغله خوندی او بچ پاتی شویدی .

په نولسمه او شلمه پیړی کی تزاری روسانو او بریتانیا پر ملك باندی زیات سیاسی او نظامی فشارونه راوړل خو بیا هم زمونږ خلکوخپل فرهنګی او دینی هویت او اصالت وساته او د شلمی پیړی په سر او وروستی څلورمه کی یی د غرب او روسانو دوه فرهنګی او سیاسی یرغلونه پر شاو تمبول . مګر په وروستیو لسو کلونو کی د دشمن په بڼه د روسانو اود دوست په بڼه د امریکائیانو فکري ، سیاسی ، اقتصادی او نظامی یرغل د هیواد اوضاع

زیاته پیچلی او ابتر کړی .

د افغانستان خلکو د نوی اسلامی خوځښت په پیروی ددی سرو او تورو ښامارانو نه د خلاصون له امله ستری قربانی ورکړی .

زمونږخلکو روسان وپیژندل خو د غربی استعمار په تیره بیا د امریکا دشیطانی سیاستونو په پیژندنی کی پاتی راغلل نن چی روسان په ډیری خواری او ذلت سره له وطنه وشړل شول نو غربی استعمار (په تیره بیا امریکا) د مزدور او لاسپوڅی حکومت ملاتړ پیل کړی او غواړی چی د روسانو دیر غل په نتیجه کی مینځ ته راغلی رژیم پرپښو ودروی .

دواړو طاغوتی ځواکونو د ټولنی په مختلفو اړخونو کي ځانو نه ننیستلی دی او د ټولنی فرهنگی ، تاریخی او مذهبی جوړښت یی یا وران کړی او یا یی د تخریب اوړنگولو په لټه کی دی.

روسان د کمونستی مفکوری په وسیله په افغانستان کی د اسلام او مسلمانانو د ځپولو لپاره راوړاندی شول خو امریکائیانو له هغوي نه ډیره تیزه او خطرناکه وسله پلاس کي نیولی او د قرآن او سنتو د احیا په نامه یی د وهابیت مفکوره میدان ته راوړاندی کړی .

وهابیت هغه فکر دی چی انگلیسانو د څه له پاسه دوه نیمو سوو کالو راهیسی رامینځ ته کړی او هغه وخت چی مسلمانانو د مسیحیانو او غرب په مقابل کی د عثمانی خلافت په نامه یوازینی « سیاسی -نظامی»هڅه لر له نو ددی لپاره چی د منځنی ختیځ عربی هیوادونه له عثمانی خلافت نه بیل کړی او د غرب په مقابل کی دا یوازینی غښتلی سنگر دړی وړی کړی او بیا په دویمه مرحله کی په فلسطین کي یهودی صهیونستی رژیم رامینځ ته او د مسلمینو لومړنی قبله «بیت المقدس » یهودو ته وسپاری او تل د عربو او یهودو تر مینځ د جگړی لمبی بلی وی نو د وهابیت فکر یی رامینځ ته کړ چی دمسلینو تر مینځ اختلاف پیدا کړی .

وهابیت او د سعود کورنی یا په بل عبارت محمد بن عبدالوهاب او محمد بن سعود (لکه چی لدی کتابه معلومیږی) د انګریزانو وفادار او لاس په نامه مزدوران وو چی د کلونو کلونو راپدی خوا یی د اسلامی امت د ټوټه ټوټه کیدنی او تخریب پسی متهی رابډ وهلی او د غربی استعمار د ګټو لپاره فعالیتونه کوی .د وهابیت مذهب د قرآن او سنتو د احیا په نامه د غرب د ګټو د خوندی کولو لپاره میدان ته راوتلی او د مسلمانانو تر مینځ داختلاف او درز اچولو مسئولیت یی پرغاړه شوی نو له همدی امله د ټولو اسلامی مذاهبو پیروانو ته مشرکان وایی او د هر غیر وهابی مسلمان مرګ روا بولی .

پر هیواد باندی د روسانو له یرغل نه وروسته افغانستان ته د وهابیت د صادریدلو زمینه برابره شوه او یو شمیر افغانان د عربانو او غربی بادارانو خدمتګاران شول . چی د وهابیت د رواجولو لپاره یی د ښوونی او روزنی زیات مرکزونه جوړکړل او د بی حسابه پیسو په لګولو یی پیل وکړ.

ناپوهو او امریکایی اعرابو حضرت امام اعظم ابوحنیفه رحمة الله علیه پسی زهرجن تبلیغات او دروغ پوری کړل اود افغانستان اکثره خلك یی (چی د حنفی مذهب پیروان دی) د مشرکانو په نامه یاد کړل.

د سلفی او وهابی په نامه امریکایی اعراب (چی د امریکا د جاسوسی سازمان سیا لپاره فعالیت کوی) له مهاجرینو سره د مرستی په پلمه د اسلامی ډلو دفترونو ته رامات شول او لا ډیر وخت تیر نه وه چی د هغوی کرغیړنی څیری څرګندی شوی او هغه دا چی کوڅه په کوڅه او کمپ په کمپ به د وطن دښکلوځجونو پسی ګرځیدل چی یوی ډلی بی شخصیته خو په نوم افغانانو ددی پروګرام په تطبیقولو کی ورسره لاسنیوی هم کاوه او زیاتی افغانی جنکیانی یی ورته په نکاح کړلی . د توجه وړ خو دا ده چی له څو هفتو وروسته به یی په هوتل یا کورکی نکاح کړی جنکی پریښوده

ت

او خپله به تری وتښتید چی دا اوس هم په سل گونو جنگیانی شته دی چی ماشومان یی زیږیدلی خو مړونه یی تښتیدلی او هیڅ درك یی لا نه معلومیږی چی دی حالت د وهابیانو افغانی دلالان هم خجالت اوشرمنده کړی دی.

د پیښور په کوڅو کی چی د دوی له بد اخلاقی تیر شو نو دوی له ځانه سره د هیواد جهادی سنگرونو ته بوجی بوجی او په جوالونو جوالونو پیسی یو وړلی او هلته یی د وطن د خلکو په تاریخی مذهب پسی زهرجن تبلیغات او ملنډی پیل کړی چی د خدای په کرم خلکو د مذهب په جامو کی دا د استعمار مزدوران وپیژندل او د اکثرو ولایتونو مجاهدینو له خپلوسنگرو نو نه راوشړل او ځینو نورو جبهاتو ته د هغوی په ورتگ بندیز ولگید.

په ۱۳۶۸ کال چی مجاهدینو د جلال آباد د فتحی لپاره درنه جگړه پیل کړی وه او مجاهدینو د حکومتی قواو مرکزونه او هډی یو په بل پسی نیولی نو دلته عربی وهابیانو او د هغوی افغانی انډیوالانو له یوی خطرناکی نقشی نه کار واخست او هغه داچی وهابیانو به د افغانانو ښځی او لوڼی په زوره د مینځی په نامه نیولی . ددی عمل په نتیجه کی مجاهدینو له وهابیت او وهابیانو سخت کرکجن شول او د کابل حکومت ، چپی او لبرال گوندونو او پاکستانی نشنالستانو ته پلمه په لاس ورغله داسی چی د افغانستان مجاهدینو پسی یی تبلیغات شروع کړل چی دوی وهابیان دی او د افغانستان د خلکو مذهب له مینځه وړي او پر ځای وهابیت راولی او لاتر اوسه هم د مزدور حکومت همدغه شان تبلیغات دوام لری یعنی ملحد دشمن ته یی پلمه په لاس ورکړه چی هغه د حنفی مذهب مدافع شی .

پدی وخت او شرایطو کی چی د هیواد جهاد نازك پړاوته رسیدلي او زمونږ خلك د خپل مذهب نه ددفاع په باب لاگړندی او فعال شوی نو د وهابیت د

ث

پیژندلو لپاره د دی کتاب لوستل ډیر ضروری دی . د هجرت او جهاد په محیط کی د سیاسی ، اجتماعی او مذهبی شرایطو په نظر کی نیولو سره پرټولو مسئولو علماوو او روشنفکرانو لازمه ده چی د وهابیت او دهغه د اصلی سرچینی (استعمار) په مقابل کی دریغ ونیسی او د خپل تاریخی مذهب او دینی نوامیسو نه دفاع وکړی او دا د مذهب په جامو کی د استعمار مزدوران بی وسلی کړی .

ج ab

لومړی یاد داشت :

دبریتانیا ستردولت له همیشه راهیسي دیوی داسی امپراطوری دجوړولو په لټه کي وچي دختیځ لـه لوری مـدیترانی نه دهند دسـمندر ترلوید یخه پوری سیمي ترلاسه کړی ، چی همداوس خپلي پخوانی هیلي ته رسیدلي دي.

سره له دی چی زمونږ دهیواد خاوره په هند وچین او منځنی ختیځ کی زمونږ له مستعمرو نه ډیره لږه ده .

دا صحیح ده چی مونږ په رسمی توګه پر دغو هیوادو واك نه لرو، او په ښکاره د دغو هیوادو حکومت په خپله دسیمی داستوګنو له خوا اداره کیږی ، خو په واقـعیت کی د دغـو هـیوادو دحکومـتي چـارو چلوونکی زمونږ سیاستونه تطبیقوی اوپه دغـو هـیوادو کی زمونږ سیاسی غوښتنی بـر لاس دي . آن چی له دوی نه دهر یوه راپر ځول زمونږ په لاس کی دی .

له دی امله نو مونږ ته پکار دي چی په دوو خبروکی غورروکړو :

۱ ـــ په دغـو هـیوادو دبشپړ سیاسی واك داسی ادامـه چی ډیره لږه سستی هم پکی ونه شی .

۲ـــ په هغـو هیوادو کی چی لاس موټری لنډو، دواك او ځواك داسی ثابتول چی هغوی هم له خپلو مستعمرو سره یو ځای کړو .

دبریتانیا دمستعمراتو وزارت زمونږ په مستعمره سیمو او هـیوادو کی د استعماری اهدافو له پاره داسی ډلی جوړی کړی چی ددی پلان په عملی کولو کی یی پوره لاس پیداکړ.

زه له هغو کسانو څخه وم چې په دی برخه کی می پوره پر مختك وکړ . او په دغه وزارت کی دکار له پیله دوزیر په باوری کسانو کی شمیروم .

څه موده راته دهند دختیځ شرکت مدیریت راوسپارل شو دغه شرکت په ښکاره خو یوه مؤسسه وه خو په حقیقت کی یی دنیمی وچی پر پراخی خاوری زمونږ واکمنی ته لارآوارروله .

دبریتانیا حکومت پر هند وستان دخپل واك د دوام په باب پوره ډاډه واوپه دی برخه کی یی څه اندیښنه نه درلوده ، ځکه هندوستان یو داسی هیواد و چی له مختلفو قومونو ، ژبو اوسره مخالفو دینونو نه جوړ و . او دهمد غو اختلافونو او رنګارنګی موجودیت پر دغه هیواد زمونږ دواك دټینګښت سبب و .

همدغه راز دبریتانیا دولت په چین کی هم داستعمار دادامی په باب اندیښمن نه و ځکه په دغه سیمه کی«بودایی دین »او «شهنشا ه پرستی » رواج وه ، دا داسی څه نه وو چه دبریتانیا استعمار تری ویریدلای وای . ځکه دادواړه مړه قوامین او دینونه وو چی له همغه باطنی او دننیو چارو سره یی کارو او دژوندانه د چاروله روزنی سره یی څه کار نه و. لنډه داچې د دغو دووسیمو خلکو کی دملی شعور پیدا کیدو ویره نه وه .

ځکه په دغو دووسیموکی یی دخپل واك په باب څه اندیښنه نه درلوده . خو داسی هم نه وه چی ګنی مونږ په دغو دوو سیمو کی خپلی نقشی په داسی ډول عملی ګولی چی په دغو هیوادو کی دی همیشه نا پوهی ،اختلاف او وخت ناوخت ناروغی خپری وي . او ددغو سیمو داستو ګنو لټی او دماغی نیمګړتیا وو مونږ په دی بر یالی کړي ووچی په آسانی سره خپلی نقشی له اندیښنو پرته او له نظر ونونه پټی عملی

کړو.

خو د دی پرعکس په اسلامی هیوادو کی همیشه اندیښمن وو .که څه هم له دغه رنځو رسړی (عثمانی امپراتوری) سره یولړ داسې تړونونه لاسلیك کړای شول چی ټول زمونږ په ګټه وو . اودمستعمرو دوزارت د متخصیصنو دنتیجی له مخی دارنځور وروستی سلګی کوی.

او همداسی مو په پټه دایرا ن له حکومت سره ځینی داسی تړونونه لاسلیك کړای شول چی په هغه هیوادکی زمونږ دسیاست دپیاوړ تیا سبب شول . او یوزیات شمیر جاسوسان مو په دغو و هیوادوکی ګمارلی وو چی رشوت پکی رواج کړو او اداری فساد تـه مو لارآواره کړه ، د دغو دواړو هیوادو مشران موله ښکلیو ښځو سره روږدي کړل او آخر د دغو دواړ وهیوادو په تل کی زمونږ داستعماری نفوذ لار پرانیستل شوه ،خو بیا هم ډاډه نه وو چی د دغو دواړو هیوادو دټولو چارو واګی به تر لاسه کړو.او داله څو خاوو:

۱ـ داسلام معنوی پیاوړ تیا او دمسلمانانوپه‌روح کی داسلام نفوذ ؛ ځکه مسلمانان په اسلام دومره ټینګ دي لکه مسیحیت چې دکشیشانو او رهبانانو په روح کي اغږلي دي . رهبانان په مسیحت دومره تینګ دي روح یي له بدنه وتلاي شي ، خو مسیحیت تري نه وځي . زمونږ له پاره دایران مسلمانان (شیعه) ډیر خطرناك وو ، ځکه هغوي مسیحیان ناولي او پلیت ګڼي . او مسیحي دشیعه‌وپه نزد دبدبویه ناولتیا یوه ټوټه ده چي که په لاس یا بدن پوري ونښلي لري کول یي پکار دي . نوځکه ورسره ګډون نه شي کیداي.

له یو ه شیعه نه مي پو ښتنه وکړه چي تاسي ولي مسیحیانو سره داسي یاستئ ؟

ویلي: داسلام پیغمبر صلي الله علیه وسلم یو هوښیار سړي وه . غوښتل یي چي کافر په اسلامي ټولنو کي په یو ه داسي تنګسه کي

وي چي پخپله دعامي کرکي احساس وکړي او ښايي دکرکي او حقارت دغه احساس ددي سب شي چي اسلام ته رامات شي (۱) او دغه ناوړلتيا يواځې دمسيحيانو په باب نه ده بلکه دشيعه په منطق که هر کافر حتي مجوسيان (پخواني ايرانيان) هم ناولي دي . بيامی ورته وويل : ستاسی دا خبره صحيح ، خو مسيحيان ولی ناولی ګڼی ؟ هغوی خو نبوت، خدای او قيامت منی ؟ ويلی : داله دوه‌پلوو: يو خو دا چی هغوی د محمد (صلى الله عليه وسلم) پيغمبری نه منی او په دعوی کی يي دروغجن ګڼی بله داچی هغوی دخدای په پيغمبرانو پوری ناروا تورونه تړی . او وايی چی مسيح شراب څښنی . ماورته په حيرانتيا وويل : داسی نه ده ، مسيحيان داسی نه وايی هغه راته وويل : ته نه پو هيږی په مقدس کتاب (انجيل) کی هداسی راغلی دی . زه چپ شوم سره له دی چی پوهيدم چی دويمه خبره يی دروغ ده (۲) خو لومړی خبره يي سمه وه خبره می ورسره له دی امله ونه شاربله چی شکمن را باندی نشی . ځکه ما ورته ځان مسلمان ښودلی و. او له خپل اصلی دين سره می دتعصب له ښکاره کولونه ډډه کوله .

۲-بل داچی اسلام يو وخت دژوندانه او واکمنی دين واو ګرانه وه چی دا ښاغلی می پوهولی وای چی ته نوکر او مربی يی ! ځکه دبادارى هغی غرور چی يو وخت لومړی مسلمانان دنړی پياوړی او ځواکمن وو هميشه ددوی په مغزو کی د اکينوله چی دنړ يوالی واکمنی له پاره هڅی وکړی ، که کمزوری او بی ارځښته هم وی . او زمونږ له پاره ګرانه وه چی په اسلامی تاريخ کی په داسی توګه لاس ووهو چی مسلمانان سره ونه پوهيږی چی دوی يووخت دنړيوالی مشری او بادارى څښتنان وو .او داهم راته ګرانه وو چی داورته وښيو چی ستاسی هغه تيره لوبي او واکمنی بيرته دراستنيدو نه ده . او په دی توګه مو دوی له دی فکره ايستلی وای .

۳- داهم وه چی مونږ دعثمانی او ایرانی حکومتونو دسستی په دوام هم ډاډه نه وو او نه په دی چی دوی دی راویښ نه شی . بلکی داویره وه چی هغوی نا څا په له هغو نقشو نه خبرنه شی چی مونږ دهغوی پر هیواد و دزوررورتسلط له پاره جوړی کړی وی او دعملی کیدو په حال کی وی . که څه هم دغه دواړه دولتونه په ناپوهی او کمزوری کی ډوب وو . چی دپاځیدو او ویښیدو وس یی نه درلود . خو بیا هم دخپل هیواد پر حالاتو واکمن وو، او پیسی او وسلې ورسره وی . او تقریباً په خلکو کی نغښتی وو نو ځکه تری ویره کیده .

٤- بله ستره اندیښنه او نارامی مو زمونږ تر لاس لاندی اسلامی هیوادو له مسلمانو علماوونه وه . دالازهر ، عراق او ایران ،علما زمونږ دهیلو په پرمختګ کې لوی خنډ وو. که څه هم هغوی دورځنی ژوندانه اصلونو ته ارځښت نه ورکاوه . اوپواځني هدف يي هغه جنت وچي خداي وسره وعده کړی و . او ډیر لږهم له خپلو اعتقادی اصولو نه نه تیریدل . او ملت په همدوی پسی روان و . ایرانی او عثمانی پادشاهان هم تری سخت ویریدل . البته سُنیانو دخپلو علماوو دومره خیال نه ساته او خپل ټول دینی ، اعتقادی او معنوی عشق یی سلطان او شیخ الاسلام ته راغونډ کړی و خو شیعه ګانو خپل معنوی او روحانی عشق یواځی په علماوو پوری تړلی و . دغه ایمانی تفاوت دومره نه و چی پر دغه هیوادو دبریتانیا دمستعمرو دوزارت اندیښنه کمه کړی دا په اسلامی هیوادو کی زمونږ داستعمار دتسلط په پر مختګ کی یو لږ مشکلات وو . دمستعمرو وزارت بلکه ټول سیاستپوهان او دبریتانیا دحکومت غړی یې اندیښمن کړی وو .

د دغو مشکلاتو دآواری له پاره مو زیات کمیسیونونه او غونډی جوړی کړی . خو هر ځل به تر ډیرو خبرو وروسته څه نتیجی ته نه رسیدو او

لاربه مو بنده ښکاریده ، او هغه را پوروونه چې په دغو هیوادو کې زمونږ دجاسوسانو له خوا رارسیدل ټول نا امید وونکی وو ، او د دغو ټولو غونډو نتیجي صفر بلکې تر صفره هم ښکته وي . خو مونږ بیا هم نا اُمیده نه وو . او ځان مو یوې اوږدې ساه او اوږده صبرته تیاراوه .

ښه مې یاددي چې په یوه کنفرانس کې چې په همدې غرض جوړ شوی و او په خپله د مستعمرو وزیر مشر کشیش او دوزارتونو خبر یالانو پکې ګډون کړ ی و. او خبرې پکې درې ساعته روانې وې ، خو څه ترې جوړ نه شو ل. کشیش وویل :

« ګرانو ! خفه کیږی مه عیسی مسیح علیه السلام پر حالاتو لاسبرې نه شو. او دین یې نړیوال نه شو . خو درې سوه کلن رنځ ، کړاو او شهادت تر زغملو وروسته چې ده او ملګریو یې وزغمه کیدای شي عیسی مسیح علیه السلام په خپله ملکوتی توجه سره مونږ ته وګوري.

او دکفارو په له منځه وړلو کې مو بریالی کړي ، که سل کاله وروسته هم وي . نو په هر حال کې باید پر خپل هدف ټینګ ایمان ولرو او ځانونه په هر راز وسایلو سمبال کړو او په محمدی ټولنو کې دمسیحیت دخپرولو له پاره هڅه وکړو ،که څه هم نتیجه یې پیړۍ پیړۍ وروسته وي . هو پلرونوزامنو ته کرلی دي . »

یوه ورځ په وزارت کې یوه ستره غونډه جوړه شوه چې بریتانیا ، روسیه او فرانسه کې زمونږ ټول جاسوسان او کارمندان پکې وو . زما له پاره په دغه غونډه کې ګډون ډیر ارځښتناك و . او داله وزیر سره دخاص ارتباط له امله .

په دغه غونډه کې د محمد یانو په مشکلاتو خبرې کیدې او دهغوی دبې لارې کولو او په عقایدو کې بې ددرز اچولو په باب خبرې کیدې او داخبره په یوه خوله کیده چې لکه اسپانیا چې خپل زاړه مذهب (مسیحیت) ته ورستنه شوه ، پکار ده چې دهرې سیمې مسلمانان هم له اسلام نه

مخکی خپل مذهب ته واړول شی خوله دی غونډی نه چی څه نتیجی تر لاسه شوی ډیری په زړه پوري نه وی او ما دغونډی ټولی هغه خبری اتری او مناقشی د « مسیح ملکوت » په نامه کتاب کی را اخیستی دی . البته دهغی مضبوطی او پیاوړی ونی(چی جرړی یی له ختیځ نه تر لویدیځ پوری غزیدلی) له بیخه را ایستل ډیر گران دی . خو انسان باید گران او سخت مشکلات هم آوراکړی .

مسیحیت په نړی کی دخپریدو له پاره راغی. او دا وعده د مسیح (علیه السلام) ده . خو محمد صلی الله علیه وسلم چی بر یالی شو او خپل تعلیمات یی پر نړی خپاره کړای شول په دی چی یو څه ورسره دنړی حالاتو او د ختیځ او لویدیځ دامپراتوریو ځوړتیا او انحطاط مرسته وکړه خو هغه شرایط له منځه لاړل او خبره سر چپه او پر عکس شوه . اوس محمدیان په نړی له پاسه مخ پر ځوړ راروان دی . او مسیحی هیوادونه دپر مختلک ، صنعت او قدرت پر لوړو ولاړدی . او هغه وخت رارسیدلی چی له محمدیانو خپل د خو پیړیو بدل او انتقام واخلو او خپل له لاسه وتلی شان له محمدیانونه راستون کړو (۳).

دویم یادداشت

په ۱۷۱۰میلادی کال د بریتانیا د مستعمرو د وزارت له خوا د اسلامی ملت د بیلاری کولو دلارو چارو د څیړنی له پاره په یوه لس کسیزه ډله کی مصر ، عراق ، تهران ،آستانی او حجاز ته واستول شوم . هغه نورو (۹) کسو هم زما غوندی پر اسلامی هیوادو د بریتانیا د غلبی په برخه کی خاص فعالیت درلود. د وزارت له خوا راته ښی پوره پیسی ، معلومات ، او جوړی شوی نقشی راکړشوی . او د پادشاهانو ، حکامو، د قبایلی مشرانو او علماو و نومونه یی رازده کړل . د خدا پامانی په وخت می سکرتر سره خپلی خبری نه هیریږی چی ویل یی :

«پوه شی چی زمونږ دهیواد راتلونکی بری په تاسی پوری اړه لری ، خومره زور چی لری دهدف د پرمختګ په لاره کی یی ولګوی » .

زه د عثمانی امپراتوری د پایتخت «آستانی» ښار په لور چی هغه وخت د اسلامی خلافت مرکز ګڼل کیده روان شوم او دغلته زما دورتګ وجه داوه چي زه دمسلمانانو له دغو دریو (عربی ، فارسی ، ترکی) ژبو نه په ترکی ژبه ښه بلدیم ، البته دژبو زده کړه بیل شی دی او پرژبه داسی تسلط چی د ژبو والو او اهل زبانو په څیر وویل شی بیل شی دی ژبه لږه موده کی زده کیدای شی ، خو بوره تسلط پری وخت غواړی او هغه څه چی ماته مهم رو داوو چی هر هیواد ته له ورتلګ سره باید داسی خبری وکړم چی خلک می دهغه هیواد استو ګن وګڼی او بد ګومانه راباندی نه شی داسی ډیر له دی نه ویریدم هم نه ؛ ځکه مسلمانان ډیر په دی خبرو پسی نه ګرځی او پر هر چاد ښو ګومان کوی ځکه پیغمبر یی

دستور ورکړی چی له بدبینی نه ډډه وکړی (٤) هغوی زمونږ غوندی نه دی که پر څه یې شك راشی شك یی ژرله منځه ځی . له بلی خوا دترکیی دولت دپولیس او اطلاعاتو مرکز ونه دومره سمبال نه دی چی له واره جاسوس وپیژندلای شی . له دی پلوه هم عثمانی دولت ډیر کمزوری و.

لنډه داچی تریوه اوږده سفر اولری مزله او ډیرو کړاوونو تر زغملو وروسته (آستانی) ته ورسیدم پر ځان می محمد نوم کیښود او جومات ته لاړم جومات د عبادت له پاره د مسلمانانو دراغونډیدو ځای دی . ماته دمسلمانانو په جومات کی په زړه پوری خبره ، منظمه ناسته او خاص نظافت و چی په عبادت کی یی لیدل کیده له ځان سره می وویل: آیا دا له وجدان نه لری نده چی داسې دین سره مبارزه وکړو؟ او آزادی او ښیگړی یی له منځه یوسو؟ آیا مونږ ته مسیح (علیه السلام)

دا امرکړی دی ؟ نژدی می دغو افکارو په زړه کی یو بدلون راوستی و ناڅاپه وبوږنیدم او له واره می ځان له دغو شیطانی سوچونو آزاد کړ او خپل عزم او اراده می لا پسی پیاوړی کړه چی تر وروستی حده به دالاره پر مخ بیایم .

په جومات کی له یوه نیمزالی عالم سړی سره مخ شوم (احمد افند) نومیده ډیر پاك سپیڅلی او نیت په خیره سړی و . چی په خپل هیواد کی می په کشیشانو او دینی خلکو کی داسی څوك نه ولیدلی . شیخ شپه وورځ داهڅه کوله چی ځان د پیغمبر «صلی الله علیه وسلم »په څیر وښیی او دژوندانه په ټولو اړخوکی یی پیغمبر «صلی الله علیه وسلم » خپل مخکښ او لارښود گڼلی و . او چی د پیغمبر «صلي الله علیه وسلم » نوم به یی اخیسته ، نو سترگی به یی له اوښکو ډکیدی .

له نیکه مرغه له شیخ سره دخدمت په ټولنه موده کی رانه شیخ یوځل داصل،نسبت او وطن پوښتنه ونه کړه او ماته یی «محمد افندی » وایه او

چی رانه خبر شو چی زه په دی ښار کی مسافر یم ، نو بیایی ډیره لورینه رابانډی کوله ځکه ما ورته ویلی وو چی زه مسافریم مورو پلارمی مړه دی خوروورور هم نه لرم . البته یو څه شته راته پاتی دی چی زه غواړم په هغو پیسو یو څه کار وکړم او قرآن زده کړم نو ځکه داسلامی امپراتوری مرکز ته راغلم چی هم دین وګټم او هم دنیا،شیخ زه کینولم او یوه خبره یی راته وکړه چی ما دلته کټ مټ ولیکله ستا احترام له څو اړخو په ما واجب دی :

۱ــــ یو خو ته مسلمان یی او مسلمانان سره ورونه دي.

۲ــــ ته میلمه یی او رسول الله «صلی الله علیه وسلم » فر مایلی دی چی دمیلمه درناوی وکړی .

۳ــــ ته دعلم زده کونکی یی اواسلام دعلم دزده کوونکی د درناوی او عزت په باب زیات ټینګارکړی دی.

٤ــــ ته غواړی چي حلال کسب وکاروکړی . په حدیث کی دی چی " کاسب دخدای دوست دی " .

زه په دغو خبرو حیران شوم . له ځان سره می وویل کا شکی مسیحت دغه روښانه حقایق په خپلو تعلیماتو کی ځای کړی وای او حیرانتیا می زیاته وه چی اسلام نو بیا له دی ټولو حقایقو او لوړو اهدافو سره دومره کمزوری او بیوسی ولی دی ؟ او مسلمانان په دغه خوا شینو ونکی انحطاط سره دمغرورو حکومتونو په منګولوکی نښتی دي ؟

شیخ ته می وویـل : غواړم چی قرآن زده کړم شیخ زما د دی آرمان د درناوی او خوشحالی لپاره پخپله زما اُستاد شو او قرآن یی راته له «حمد » (الحمدالله) نه شروع کړ او مطالب یی راته ټکی په ټکی تفسیر ول دشیخ غوندی راته دقرآن تلفظ ډیر ګران و کله به دا ګرانه نوره هم ګرانه شوه.

ښه می یاد دی چی د قرآن دا جمله (علی امم من قبلك) می له لس واری تکرار نه وروسته زده کړه ، ځکه شیخ ویل : داجمله باید داسی ووایی

چی په یوبل کی دمیمونو له ادغام نه اته میمونه نورجوړشي.خیرهرڅه چی وو په دووکلو کی می پوره قرآن له سره تر پایه ولوست .

شیخ به چی هر ځل قرآن لوسته اودس به یی کاوه او ماته به یی داوداسه ویل ، او دواړه به مخ پر قبله کیناستو او دی به مشغول شو . دیادونی وړ ده چی او دس دمسلمانانو په نزد دځان او لاسونو داسی مینځل دی چی لومړی صورت مینځی (استنجا مراد ده) بیا تر څنګلو پوری ښی لاس او بیا کیڼ لاس ، بیا پر سر ، غوږونو او اورمیږ لوند لاس راکاږی ، او بیا ښپی وینځی .او ویل به یی : چی لومړی باید انسان په خوله اوبه واچوی او بیا لږی پوزی ته تیری کړي . او بیا په اوداسه لګیا شی . زه له یواځنی کارنه چی مجبور وم دمسلمانانو په خیر یی وکړم او ډیر پری زهیریدم ، مسواک و او مسواک دغاښونو دپاکولو له پاره په خوله وهل کیدونکی یوه ټوټه لرګی دی ، او زه پوهیدم چی دا لرګی غا ښونه خرابوی ار کله خو اوری هم وینی کوی خو زه یی په کولو مجبور وم ، ځکه داداسلام له نظره یو تأکیدی سنت و.

په آستانه کی دا ستوګنی په وخت کی دجومات له خادم سره ویدیدم ، او له هغه سره می دیو څو پیسو مرسته هم کوله ، خادم یو قهر جن او بدخویه سړی و ، « مروان افندی » نومیده ، مروان دپیغمبر صلی الله علیه وسلم دیوه صحابی نوم هم دی . او خادم هم په دغه نامه ډیر ویاړ کاوه. او ماته به یی ویل : که خدای زوی درکړ مروان نوم پری کیږده . ځکه مروان داسلام یو مجاهد شخصیت تیر شوی دی .

زه همیشه له دغه خادم سره وم او همده به راته ډوډی تیاروله . دجمعی په ورځ چی اسلامی اختر ګڼل کیږی کارته نه تلم ؛ خو په نورو ورځو کی له یوه تر کاڼ سره کارته کیناستم ، او دیوی هفتی کار په بدل کی یی ډیر لږ څه راکول . ما نیمه ورځ کارکاوه ؛ نودنورو کارګرو دمنایی معاش هومره یی راکاوه . ترکاڼ «خالد» نومیده . په وزګار وخت کی به

یی درسول الله صلی الله علیهٔ وسلم دیو یار خالد بن ولید رضی الله عنه دقهرمانی او فتوحاتو کیسی کولی . ترکاڼ به ویل . عمر بن خطاب رضی الله عنه چی رامنځته شو ، نو خالد یی له کاره گوښه کړ .

خالد (ترکاڼ) یو قهر جن او بدخویه سړی و ،خو زمایی ډیر خیال ساته ، خوزه یی په وجه نه پوهیدم . ماویل ښایی دابه له دی امله وی چی زه دهغه په دینی او کسبی چاروکی ډیر غم غرض نه لرم . او دهغه دچال چلن په باب څه نه وایم او خبری ته یی لاس په نامه یم . کله به چی سره گوښه کیدو ،نو غوښتل به یی چی جنسی غریزه راباندی سړه کړی.

البته داکار دمسلمانانو له نظره سخت منع دی ، خو خالد داسی یو سړی وچی دمذهبی مسایلو په ارځښت ډیر اړنه و . که څه هم په ظاهره یی خلکو ته ځان په تقوی ډیر ټینگ ښوده . خو دجمعی لمانځه ته راته.

او نورو لمونځو نو ته جومات ته نه راته ،زه پری نه پوهیدم چی نور لمونځ کوی که نه ؟

ما دده داناوړه غوښتنه نه منله . او دامی گڼله چی له خپل یو بل شاگرد سره به چی د (سلانیك) استو گن اوډیر ښکلی و لومړی یهودی و خو وروسته مسلمان شوی و . داکار کوی . ځکه ځینی وخت به هغه یواځی دوکان ته دننه چی دلر گیو ډیری پکی وه ، د دوکان د پاکولو په پلمه ننه ایسته او تر څه وخته به دواړه سره لگیاوو .

ما به دغرمی ډوډی په دوکان کی خوړه ، بیا به دلمانځه له پاره جومات ته تلم . تر مازیگره به په جومات کی وم بیا به دشیخ احمد کاله ته تللم . او دوه ساعته به می ورسره قرآن، دترکی ژبی گرامر او عربی ادبیات لوسته او هره جمعه به مي دزکوة په نامه یو څه پیسی ورکولی . په حقیقت کی دا شیخ ته رشوت ورکول وو . ځکه هغه له ماسره دارتباط له پاره دکار سړی و . شیخ هم زما په زده کړه کی ډیره لږه ستومانی هم نه ښکاره کوله . قرآن ، داسلام اصول او دعربی او ترکی ژبی

رموز یی رازده کول . شیخ احمد پوهیده چی ما واده نه دی کړی ، ډیر ټینګاریی کاوه چی د ده له یوی لور سره واده وکړم. او چی دشیخ ټینګار له حده زیات شو او دومره زیات چی که د ده غوښتنه می نه وای منلی . نو ترون او راشه درشه موشلیده .ویل به یی چی واده (نکاح)دپیغمبر سنت دی او رسول الله «صلی الله علیه وسلم » فرمایلی دی « څوك چی زما له سنتو نه غاړه وغړوی زما دوست نه د ی »نو مجبور شوم چی دروغ ورته ووایم چی زه خصی یم او جنسی قوه نه لرم چی شیخ ایله زما په دی خبره سوړ شو . او بیله خفګانه له خپل ټینګارنه تیر شو .

په آستانه کی د دوو کلو وروسته می له شیخ نه اجازه واخیسته چی وطن ته ځم شیخ ونه منله ویل چیرته ځی دلته هر څه چی دی زړه وغواړی شته . دلته دین هم شته او دنیا هم او ته خو وایی زه موروپلار او خویندی وورنه نه لرم . نو بیا خو ښه داده چی آستانه وطن وګڼی او همدلته پاتی شی دشیخ داټول ټینګار له ماسره دمینی له وجهی و ماهم ورسره مینه درلوده ، خو زما دملی وظیفی غوښتنه وه چی لندن ته ستون شم او هغه اطلاعات چی په دوو کلوکی می دمسلمانانو دحکومت له مرکز نه راغونډ کړی وو، ټکی په ټکی وړاندی کړم . په دی موده کی می هم پروګرام همداو چی پرله پسی خپلی کتنی او څیړنی په لنډه توګه هغو لیکو نوکی چی دبریتانیا دمستعمرو وزارت ته می لیکل ولیږم .

حتی په خپل یوه راپورکی هغه وړاندیز او تجویز چی ترکان رانه دهمجنسو لی غوښتنه کړی وه . وزارت ته ولیکله . هغوی ځواب راکړ چی که پوهیږی داکار ستا دڅیړنوپه بشپړ تیا کی مؤثر وی ته مؤظف یی چی داکار هم وکړی خو ماچی دا فرمان وکوت ، ډیر خواشینی شوم او له ځانه سره می وویل چی څومره ناولی کار می مخکی کړی او زما مشران څومره بی وجدانه خلك دی چی ماته د داسی ناوړه کار دکولو امر کوی . خو بیله دی چی پروګرام پر مخ بو ځم بله چاره نه وه .

له شیخ سره دخدای پامانی ورځ عجیبه غمونکی جنجالی ورځ وه ، دشیخ اوښکی پرمخ روانی وی زه یی په سینی پوری جوخت نیولی وم ، ویلی : زویه خدای دی مل اوسه . که دی ښارته بیا راغلی او زه مړوم ماهیر نه کړې ، او هیله من یم چی ډیر ژر په محشر کی درسول الله «صلی الله علیه وسلم» په حضور کی سره ووینو دشیخ عواطفو په ما عجیب اثر پری ایست اوښکی می بیواکه روانی شوی؛ خو وظیفه تر عاطفی لوړه ده.

دريم يادداشت

ځمانهه نور ملګري هم په نورو اسلامی هیوادو کی خپاره وو زما غوندی هغوی هم دوزارت له خوا وغوښتل شول ، خو له بده مرغه له مونږ لسو کسونه ایله شپږ لندن ته ستانه شول او دسکرتر د وینا له مخی مصر ته لیږلی ملګری مو هملته مسلمانان شول او هملته پاتی شو ل خو دسکرتر وینا ده چی له مسلمانیدو سره سره یی درارسیدلو اطلاعاتو له مخی تر اوسه دکارله رازنه پرده نه ده لری کړی او دکارله جریان نه یی څو ك نه دي خبر کړي .

له پاتی څلورونه یو چی روسیې ته لیږل شوی وهملته پاتی شواو هغه له اصله وهم روسی ، سکرتر دهغه په باب له مخکی نه اندیښمن و چی له همغه لومړی سره به په وزارت کی دروسانو جاسوس وی او دوزارت رازونه یی دروسیې امپراتوری ته برسیره کړی دي

غراق ته استول شوی دریم ملګری مویغداد ته نژدی په عماره ښارکی د « وبا » له امله مړ شو .

څلورم سړی بیخی ورك شو او هیڅ پته یی ونه لګیده اووز ارت ته یی دیمن تر پایتخت (صنعا) پوری پته وه او تر یوه کاله پوری یی اطلاعات پرله پسی رارسیدل خو بیا ورك شو او څرګنده نه شو چي څه پری وشول .

دوزارت له پاره د دغو څلورو کسو له لاسه وتل ستره ضایعه وه . مونږ دخپلو ملګریو له هر یوه له پاره دقیق حساب نیولی دی ،نومونږ یو داسی ملت یو چی شمیر مو کم خوکار مو درون و. او دیو ه کس له لاسه ورکول هم راته یو مصیبت دی لنډه داچی ما له سره تر پایه خپل اطلاعات سکرتر

ته په مخکې کېښودل او سکرتر د اطلاعاتو ترسرسري او ريدو وروسته زه هغه کميسيون ته وليږلم چې زمونږ د راپور ونو او ريدو ته جوړ شوی و. په کميسيون کې د مستعمرو دوزارت پوهان راغونډ شوي وو او په خپله وزير د کميسيون مشري په غاړه درلوده .

لومړی مې ملګريو خپل خپل اطلاعات وړاندې کړل او بيا ما خپل دوه کلن راپورنه واورول . وزير او سکرتر زما کار ډېر و ستايه خو د کار دځرنګوالی له مخې په شپږ و کې زه دريم سړی وم نوردو « همکاران مې چې بيلکود او اچ فرانس » ترما ښه وو .

البته د ترکي ، عربي ، قرآن او شريعت په زده کړې کې زما پر مختلګ ډېرښه و . خو داسې اطلاعات مې تر لاسه نه کړای شول چې وزارت ته دعثماني دولت کمزوري ورو ښيم چې د وزارت داستعماري هدف په تر لاسه کولو کې مؤثروي .

کميسيون شپږ ساعته لګيا و تر کميسيون وروسته مې د سکرتر له غوړه تيره کړه چې په دغه سفر کې زما زياتره وخت د ترکي او عربي ژبي او قرآن په زده کړه تير شوی نو دعثماني دولت دسياسي اړخونو څيړنې ته مې پوره وخت نه درلوده ، او هيله ده چې په راتلونکي کې مؤثر نقش ولرلای شم . سکرتر په مسکازه تشويق کړم لاس يې راته پراوړه کېښود ويې ويل:

ته رېښتيا چې په راتلونکي کې کامياب يې ، مونږ هيله لرو چې په دې لارکې ترټولو مخکې شې . او ستا په دغه ارځښتمن سفر کې دوه غرضه پراته دي :

١ـ داچې د مسلمانانو کمزوري برخې راوسپړې ، او په دې وپوهيږې چې له کومو لارو د اسلامي ټولنې تل ته لارپيدا کولای شو او مليت او وحدت يې سره ګډوډولای شو، ځکه پر دشمن د بر ياليتوب بنسټ همدادی .

٢ ـ که د مسلمانانو کمزوري برخې دې پيدا کړې او د دوی وحدت ګډوډو لو ته متوجه شوی نو که کيدای شول له هماغي لارې يې د اتحاد رنګ کولو

او دملیت او قومیت غوښتنی روحیې خپرولو ته اقدام وکړه . او که په دی کار بریالی شوی نو پوه شه چی د وزارت له خوا به درته ستر منصب درکړشی .

زه.شپږ میاشتی په لندن کی پاتی شوم او دتره له لور (مادی شوای) سره می واده وکړ هغه له مانه یوکال مشره وه زه دوه ویشت کلن وم او هغه درویشت کلنه . ښکلی وه خو په هوښیاری او استعداد کی بده نه وه .

زما دژوند انه خوږی شپی همدا شپږ میاشتی وی چی له ښکلی ناوی سره می تیر ی کړی . هغه اُمیند واره شوه او زه په تمه وم چي خپل بچی وگورم خو وزارت امروکړ چی په خپل کار پسی عراق ته لاړشم .

عراق له ډیر پخوا راهیسی دعثمانی حکومت تر استعمار لاندی و. ماله پاره داسفر ډیر په زړه پوری ځکه نه وچی زه دخپل زوی د لیدو هیله من وم خو زماملی وظیفې ، دښځی مینه ،عاطفه ، شخصیت ، شهرت او دزوی علاقه هر څه لاندی کړی وو نو ځنگه مي چی دوزارت له خوا حکم واورید دخپلی ځوانی ښځی دغوښتنی او تیینگار پر خلاف می له واره نو ی ماموریت رمانه او له هغی نه دبیلتون په ورځ دهغی اوښکو او سلگیو سخت وځوړلم ژړغوني او مړاوی خیری بې وزړولم راته یی ویل لیکونه همیشه رالیږه چی د دی خو میاشتنی ژوندانه زرینی خاطری دی پری تازه کیږی دهغی داغوښتنه دومره محرومانه او دبیوسی وه چی دزړه په نغری کی دچاودنی په خیر وه او نژدی یی له سفر او ماموریت نه لاس په سر کړی وم . خو دخپلوعواطفو واکی می راښکلی له میرمنی سره می خدای پامانی وکړه وزارت ته لاړم ، لازمی لارښوونی می تري واخیستی او روان شوم .

شپږ میاشتی وروسته په لارکي وم چی دعراق بصری نو می ښار ته ورسیدم . بصره یو قبایلی ښار دی . استو گن یی سنیان،شیعه ،عرب او ایرانیان دی ، یو کم شمیر مسیحیان هم پکی اوسی .

زما په عمر کی دالومړی ځل وچي په دی ښارکی می شیعه او ایرانیان

ليدل .

دلته بيځايه نه ده چي دشيعه او سني دپيژند گلوي په باب څه ووايم:
شيعه هغه مسلمانان دي چي داسلام د پيغمبر «صلى الله عليه وسلم» زوم او دفاطمى خاوند علي بن ابيطالب «رضى الله عنه » ته منسوب دي علي پر زومولى سر بيره دپيغمبر اكرم «صلى الله عليه وسلم » دتره زوى هم و .
او شيعه وايى چي پيغمبر «صلى الله عليه وسلم» على رضى الله عنه خپل جانشين غوره كړى و. او على رضى الله عنه او يولس زامن يى يو په بل پسى دپيغمبر جانشينا ن دي .

زما خيال دى چي شيعه په حقه دى ، ځكه داسلام د تاريخ له مطالعى نه ماته ثابته شوه چي على رضى الله عنه داسى يو لړامتيازات درلودل چي په مسلمانانوكى دمشرتوب او دملت دلارښودنى له پاره غوره وو . حسن او حسين «رضى الله عنهم » خو په خپله سنيان هم منى ځكه چي پيغمبر «صلى الله عليه وسلم » يى په هكله ويلى وو چي: «حسن او حسين رضى الله عنهم دواړه امامان دي». خو زه دانه شم منلاى چي پيغمبر «صلى الله عليه وسلم » به دحسين «رضى الله عنه » (٩) نه گونى زامن هم جانشينان كړى وي (٥) او كه محمد «صلى الله عليه وسلم » غوره كړي هم وى نو هغه له راتلونكى نه څه خبرو ؟

ځكه محمد «صلى الله عليه وسلم» چي څه وخت له دنيا رحلت كاوه حسين رضى الله عنه لاهلك و نو هغه څنگه پوهيده چي دزوى پلارشي ، او نسل به يى تر نهو او لادو او هغه هم ټول دامت دمشرى له پاره دنياته راځى .

هو ! كه محمد «صلى الله عليه وسلم » ريښتياپيغمبر و ، كيداى شي چي له راتلونكى نه خبراوسى . او خداى له راتلونكى نه خبر كړى او سى لكه مسيح «عليه السلام» يى چي له راتلونكى نه خبر اوه ، خو دهغه (محمد صلى الله عليه وسلم) پيغمبرى زمونږ له نظره شكمنه ده ، مسلمانان وايى چي قرآن دمحمد «صلى الله عليه وسلم » دپيغمبر ى له پاره پوره

دلیل دی خو ما قرآ ن لوستی ، په هغی کی می داسی څه ونه موندل ❖ البته دقرآن په لویوالی کی څه شك نه شته ، او له تورات او انجیل نه ډیر او چت او ارځښتناك دی .
ځکه په قرآن کی ډیری لویی اخلاقی چاری او نظامونو او قاعدی پرتی دی ، خو آیا یواځی همدا دمحمد «صلی الله علیه وسلم » دپیغمبر ی دلیل کیدای شی ؟

زه دمحمد «صلی الله علیه وسلم » په باب سخت حیران یم . یو بیدیانی او بدوی سړی چی لیك ولوست هم نه شی کولای څنګه داسی کتاب راوړای شی ؟

داکتاب ډیره هوښیاری ، پوهه او استعداد غواړی چی په ننیو روڼ فکر وعربو کی هم نه شته ، دهغه وخت بدوی عرب خو پریږده چی لیك ولوست یی هم نه وی زده . له یوی خوا په دی اندیښنو کی ډوب یم ، او له بلی خو افکر کوم چی آیا همداد ده دپیغمبري دلیل کیدای شی؟ .
په دی باب ماله ځینو مسیحی پوهانو سره هم خبری کړی دی خو څه پوخ ځواب می نه دی اوریدلی بلکی له خبرونه یی وچه دښمنی او تعصب څڅیده . په ترکیه کی می له شیخ احمد سره هم همدا خبره وشار بله هغه هم قانع نه کړای شوم ، خو زیا ت څه می ورسره ځکه ونه ویل ، چی دخپل راز له بر سیریدواوراباندی له شکمنیدونه ویریدم .

خیر زه محمد «صلی الله علیه وسلم» یو داسی ستر عنصر ګڼم چی زماله اټکل نه وتلي . او منلی خبره هم همداده چي هغه دخدای دپیغمبر انو یوداسی لاروی دی چی کیسی او حالات می یی دمشرانو په کتابونه کی لوستي دی خو پر پیغمبر ی می یی لا ایمان نه دی راوړی .

خو که ووایم چی پیغمبر نه دی نو نابغه یی هم نشم ګڼلای ، ځکه په دی کی شك نه شته چی هغه له نابغه وونه ډیر اوچت دی او ترټولو پوه او هوښیار دی ،

خو سنیان وایی چی تر پیغمبر صلی الله علیه وسلم وروسته مسلمانانو رای ورکړه چی لومړی دی ابوبکر «رضی الله عنه» بیا عمر «رضی الله عنه» بیا عثمان «رضی الله عنه» او بیا علی «رضی الله عنه» خلیفه وی . اوله همدی امله یی نو دپیغمبر پردی فرمان چی تر هغه وروسته دی علی «رضی الله عنه» خلیفه وی ستر گی پټی کړی . او دانوریې تری دخلفأ الرسول په توګه مخکی کړل .

داسی شخړی او لانجی په هر دین کی وی . په مسیحیت کی داسی شخړی اواختلافات له لومړی سره وو خو نه پوهیږم چی مسلمانانو ولی تر اوسه روانی کړی دی ؟ او س چی عمر «رضی الله عنه» او علی «رضی الله عنه» دواړه لاړل . مسلمانانوته ښکاردی چی پر خپله اوسنی وضع غوروکړی نه پر ښخوانی .

یوه ورځ می دوزارت له لویانو سره دشیعه او سنی پر اختلافاتو خبری کولی ، او دامی ورته ویل چی که دوی هوښیاران وای اختلافات به یی شاته کړی وای (٦) دمربوطی څانګی مشر راته رانیغ شو ویی ویل : ته داختلاف دتأثیر پهزیاتولوکی په هڅه مؤظف یی او مونږ باید مسلمان د یوی ورځی اتحاد ته هم پری نه ږدو .

او همداشان راته سکرتر هم عراق ته له سفرنه مخکی یوه غونډه کی وویل : « همفری ! پوهیږی، له هغی ورځی چی خدای بشر پیدا کړی شخړی او اختلافات ېکی پیدا شو ،له هابیل او قابیل نه پیل شو او دمسیح تر راستنیدو به په نړی کی روان وی او کیدای شی دانسانانو تر مینځ خپلمنځی اختلافات په لاندی پنځو ډولونو وی .

١ـ درنګ اختلاف .

٢ـ دجغرافیایی پولو اختلاف .

٣ـ قبایلی او کورنی اختلاف .

٤ـ مذهبی اختلاف .

۵ ــ تاریخي اختلاف په تیرو پیښو او واقعاتو پوري اړه لري .

بله ستره وظیفه په دي سفر کی ستا پر غاړه داده چی ، دمسلمانانو (سني ــ شیعه) هغه اختلافي ټکی چی یو له بله بیلوی ، راپیدا کړی او لمن ورته ووهی او په دی لړ کی وزارت ته ارځښتمن اطلاعات ور په لاس کړی او ته وپوهیږه چی که ته خپله دمسلمانانو تر منځ داختلاف زړی شوی دبریتانیا له پاره به دي په خدمت کی ستر بری گڼلی وی . ځکه مونږ انګلیسانو ته ګرانه ده چی ترهغی له هراړخه سو کاله او آرام کیدای نشوچی تر څو مو په خپلو ټولو مستعمرو کی دفتنی او اختلاف اورته لمن نه وی وهلی او عثماني امپراتوری هم هغه وخت رانسکو رولای شو چی په ملت کی یی فتنه راولاړه کړو که نه نو څنګه کیدای شي چی یو موټی خلك پر یوه ستر او لوی ملت باندی بر لاسی شی ؟

او دا هم درسره یاد ساته چی دترکو سلطنت او د فارس حکومت کمزوری شوی او ته باید یواځی دحکومتونو پرخلاف دملتونو دپارولو وسایل برابر کړي ، لنډه داچی که په دوی کی اختلاف پیداشو او ددغو حکومتونو زور خوروورشو مونږبه ډیره آساني کولای شو چی استعماریی کړو.

PROPERTY OF ACKU 19905

خلورم یادداشت

زه چې بصرې ته ورسیدم ، په یوه جومات کې مې واړول دجومات مشر او امام داهل سنتو یو شیخ اوله اصله عرب وه « شیخ عمر طایی » یې ورته وایه ، له شیخ سره بلد شوم ، او درناوی مې یې پرځای کړ خو شیخ له هغه لومړۍ شیبې رابانده شکمن غوندې شو دنامه او اصل ونسب پوښتنه یې رانه وکړه ، ما ویل چې زما لهجې او رنگ به شیخ ته شك پیدا کړی وی . خو هغه مې کوله چې دشیخ بدگومانی له ځانه لرې کړم نو ورته مې وویل : زه دترکیې د « اغدیر » یم په آستانه کې د شیخ احمد شاگرد وم او دخالد ترکانړ په دوکان کې مې کارکاوه ، او دترکیې په باب راسره اطلاعات مې شیخ ته وړاندې کړل . اوحتی ځینې ترکی کلمې او جملې مې هم له قصده وویلې . ښه مې ورته کاته چې شیخ خپل یومرید ته چې په ترکی پوهیده سترگه وهله چې دی داجملې سمې وایی که نه ؟ او هغه دسر په خوځولو ښوده چې سمې یې ولیم بیا به خو شحاله شوم چې که خیروی دشیخ شك لرې شو . خو څه موده وروسته پوه شوم چې زما اټکل سم نه و او شیخ راته دشك په سترگې کتل . او ترکی جاسوس یې گڼلم ، دشیخ اود بصرې داولسوال (چې عثمانی دولت ټاکلی وه) څه اختلاف و ، ما بیله دی چې دشیخ عمر جومات پرېږدم بله چاره نه درلوده . دمسافرو یوه سرای ته لاړم او یوه کوټه مې پکې کرایه کړه . سرای وا ن یو لوده او احمق غوندې سړی و ، آرام ته یې نه پرېښودم ، هر سهار به راغی ، لمانځه ته به یې له خو به پاڅولم . ماهم منله ، دی په دی هم نه بسیاکیده ، مجبور ولم یې

چې تر لمر خاته پورې قرآن ولوله ، ما به ورته ویل : لمونځ ، فرض دي قرآن لوستل خو فرض نه دی هغه به ویل: دلمر خاته او لمر پریواته په وخت خوب په سرای کې دلوږې او خوارې سبب دی . ما څه نه شول ویلای ځکه راته یې ویل چې که داسې ونه کړې له سرای نه دی وباسم زه مجبور وم هر سهار تر آذان ورورسته لمونځ وکړم او تریو ساعته زیات وکم قرآن ولولم سرای وان (مرشد افندی) په دې هم بسیانه شو یوه ورځ راغلی و یې ویل تاچې له کومې ورځې داکوټه کرایه کړې ، زما په کارکې خنډ پیدا شوی او همیشه مې ځوروی ، او زه داستاله بد پل او قدم نه ګڼم ستا بد قدمې داده چې ته لونډ او جره یې او جره بدمرغه وی نو باید واده وکړې او یاله سرایه ووځه ورته مې وویل: پیسې نه لرم چې واده وکړم . ما وویل که ده ته هم ووایم چې « خراب » یم نودې خو نا پوه سړی دې وایې به زه دې ګورم چې رښتیا وایې که دروغ ؟ نو ماویل پیسې نلرم مرشد افندی وویل: عجب بې ایمانه سړی یې تاپه قرآن کې نه دې لوستي چې خدای (ج) فرمایې : ان یکونو افقرا یغنیهم الله من فضله (نور / ۳۲) « خوك چې واده وکړې که بیوزلی وی خدای یې په خپله شتمن کوی ». زه حیران شوم چې څه وکړم ؟ او څه ځواب ورکړم ؟ ما ویل ډېره ښه ده . خوځنګه بې پیسو واده وکړم ته پورپیسې راکوې ؟ یاراته یوه ښځه پیدا کو لای شې چې مهر ونه غواړې ؟

مرشد افندم لږ غلی شو ویې ویل : په دې خبرونه پوهیږم خو یا باید درجب میاشې تر لومړې پورې واده وکړې او یا له سرایه ووځه . درجب تر لومړې پورې پنځه ویشت ورځې پاتې وې .

دلته د اسلامي میاشتونو مونویادونه بیځایه نه ده .

محرم ، صفر ، ربیع ا لاول ، ربیع الثاني ، جمادي الاول ، جمادی الثانی ، رجب ،شعبان ، رمضان ، شوال ، ذی القعده ، ذی الحجه.

دمیاشتو حساب د میاشتی دلیدو له مخی کیږی . میاشتی له دیر شو ورځو زیاتی او له نه ویشتو کمی نه وی .

لنډه داچی دسرای وان په زور په نه زړه او بد رنګ دیوه بل ځای په لټی پسی راووتم . له یوه ترکانړ سره می خبره وکړه چی په دوکا ن کی به کارهم کوم او شپه او خواړه به هم هملته کوم. دټاکلی نیتی تر رارسیدو دمخه له سرای نه دترکا ڼ دوکان ته راغلم . ترکا ڼ یو لوروونکی او خوږ سړی و . له ما سره یی زوی غوندی چلند کاوه . « عبدالرضأ » نو میده دایرا ن دخراسان شیعه و او په بصره کی میشت شوی و . ما ورسره له وخت نه استفاده وکړه او فارسی می تری زده کړه ، شیعه ګانو او په بصره کی او سیدونکو ایرانیانوهر مازدیګر د ده ددوکا ن په مخکی غونډه کوله او پر اقتصادی او سیاسی چارو به یی خبری کولی . د دی ځای شیعه ګان عثمانی حکومت او دایرا ن حکومت ته سخت په غصه وو . په خپلو کی به دایرانی دولت او عثمانی حکومت دجنا یاتو او ناروا وپه باب غږیدل . او چی څنګه به نا آشنا راښکاره شو خبره به یی په بله واړو له او دخپلو شخصی مسایلو په باب به اخته شول زه حیرا ن وم چی پر ما یې څنګه باورکړی او زما په مخکی په جار دسیاسی او ضاع په با ب غږیږی ؟ خو وروسته پوه شوم چی هغوی پرما دآذر بایجانی ګومان کړی دی . ځکه زه یی لیدم چی ترکی ګړیږم او سپین پوستی یم . دآذربایجا ن خلك به سپین پوستی وی .دوکا ن ته دراتلونکو خلکو په ډله کی می یو ځوان دد ینی طالب العلمی په جامو کی ولید . چی په دریواړو (عربی ، ترکی ، فارسی) ژبو ښه پوهیده او محمد بن عبدالوهاب نومیده لوړ خیالی، قهر جن او دعثمانی حکومت سخت مخالف و. د دوکا ن له خاوند (عبدالرضأ) سره ملګرتیا یې له دی امله وه چی دواړو دعثمانی دولت په وړاندی مخالفه نظر درلود خو عجیبه داوه چی دا ځوا ن په ایرانی ژبه څنګه

داسی ښه پوهیده ؟ سره له دی چی له اصله عرب دی . او په فکروم چی د دوی دواړو ترمنځ د دوستی تړون ټنګه شوی. عبدالرضا ، سخت متعصب شیعه او محمد بن عبدالوهاب سنی دی . خو داهم لری نه وه ځکه په بصره کی سنیان او شیعه په خپلو کی سره اغزلی او دوروںو په ځیریي ژوند کاوه . او فارسی ژبه هم دبصری په خلکو کی دومره زیاته رواج وه لکه په ترکی چی پوهیدل .

محمد بن عبدالوهاب یو آزادی غوښتونکی ځوان واوله شیعه ګانو سره په مخالفت او مبارزه کی یی زیاتی نه کاوه دځینو سنیانو پر خلاف ددوی ځینی مشایخ شیعه ګان کافردی او وایی چی شیعه مسلمانان نه دی . محمد بن عبدالوهاب داهل سنتو څلورګو نومذهبو ته هم څه ډیر ارځښت نه ورکاوه . اوویل به یی داخوڅه خدای نه دی نازل کړي .

دڅلورګونو مذهبونو کیسه داسی ده چی :

په څه له پاسه یوه پیړی کی په مسلمانانوکی څلورکسه (ابوحنیفه مالك بن انس ، احمد بن حنبل ، محمد بن ادریس شافعی رحمة الله علیهم) پیداشول ، دوخت حکومتونو خلك مجبورکړل چی په مذهبی چاروکی د دغو څلورو کسو پر پله لاړشی . او اعلا ن یی کړه چی له دی څلورو پرته هیڅوك له قرآن اوسنتو نه دخدای دحکم درا ایستوحق نه لری .

دوخت دحکومتونو له خوا داجتها دمخنیوی ددی سبب شو چی مسلمانان له فکری پلوه په ټپه ودریږی او د دغو څلورو کسو پلویان شی . البته په دی منځ کی شیعه ګان غلی کیننا ستل . او خپل مذهب یی(چي په قرآن او دپیغمبر «صلی الله علیه وسلم» په سنتو کی دفکری حرکت او اجتهاد پر بنسټ ولاړو) په یوه پراخ منطق سره خپور کړ . سره له دی چي هغه وخت شیعه ټولی دسنیانو لسمی ته هم نه رسیده . مګ پر زیاتیدو شو . او دسنیانو په وړاندی یی ډیوه پیاوړی

صف په تو ګه ځان څرګند کړ .

دیادونی وړده چی اجتهاد په هر وخت کی په اسلامي فقه کي یو بدلون راولی. او په اجتهاد سره دوخت له غوښتنو سره سم نوی نوي مطالب له اسلام نه تر لاسه کیږي چی په دی توګه نو مذهب یوه داسی وسله ده چی هره ورځ باید په نوی بڼه په نړۍ کی را منځته شی . خو که مذهب په یوی ځانګړی لاره او محدودو افکار وکی راایسار شو نو دپوهی ورینه یړۍ او دټولنی اړتیاوی نه تر سره کیږی . او مذهب باید دیوی زړی او له کاره لویدلی وسلي په توګه کینبودشی . که ته زړه او زنګ وهلی وسله ولری او دښمن دی نوی او عصری وسله لری ، نو دښمن درباندی اروهرو بر لاسی کیږی. زه فکر کوم ډیر ژربه سنیا ن عقلاً داومنی چی له وچ تقلید نه لاس واخلی او داجتهاد ور په سمه توګه پرانیځی او که دغه پلان رامخکی نه شی دسنیانو ټولنه به ډیر ژرسره وشیندل شي او شیعه مکتب به ټوله اسلامی ټولنه ونیسي.

دغه لوړ خیالی (محمد بن عبدالوهاب) ځلمی دخپلی پوهی مقلد و او هغه څه یی منل چی په خپله له قرآن نه پوهیده او ډیر لږ یی داهل سنت دمشایخو نظریی منلی دڅلورو ګونو امامانو په فتوا وو او حتي کله کله یې د ابوبکر «رضی الله عنه» او عمر «رضی الله عنه» په پوهی پوری هم خندل . او کله به چی له قرآن نه په کوم حقیقت پوه شو چی څلور ګونی مذهبونه یې پر خلاف پوهیدلی د هغوی نظریه او عقیده به یی پر دیوال ویشته او همیشه به یی ویل : پیغمبر اکرم «صلی الله علیه وسلم» فرمایلی دی : انی مخلف فیکم الکتاب والسنه (ما تاسی ته دخدای کتاب او سنت پری ایستی دی .) او دایي نه دی ویلی چی تاسی ته می دخدای کتاب ، سنت او صحابه او مذهبونه پری ایښی نو پر مونږ دکتاب او سنت پیروی فرض ده نه د مذهبونو او

صحابه وو هغه رایی چی د قرآن او سنت مخالفی دي .

یوه ورځ عبدالرضأ ، ته « شیخ جواد قمی » شیعه عالم راغلي او هغه دشیعه عالم په ویاړ یوه درنه میلمستیا وکړه ، زه هم پکی وم او محمد بن عبدالوهاب هم و . شیعه عالم او محمد سره په خبروکیوتل . ما ته دهغه بحث ټولی خبری یادی نه دی . خو یو څو می په یاد کی پاتی دی:

شیخ جواد محمد ته وویل : ته چی داسی آزاد خیاله سړی یی چی دمذهب دخاوند !نو تقلید نه کوی ولی دشیعه گانو غوندی دعلی «رضی الله عنه » پیروی نه کوی ؟

محمد وویل : علی(رضی الله عنه) هم دعمر «رضی الله عنه » او نورو صحابه وو غوندی دی او وینا یی شرعی دلیل کیدای نه شی ، شرعی حجت یواځی قرآن او سنت دی .

شیخ قمی وویل : علی «رضی الله عنه » څنگه له عمر «رضی الله ع » او نو رو صحابه وو سره فرق نه لری ؟ چی پیغمبر (صلی الله عل وسلم) دهغه په باب فرمایلی دی :

انامدینة العلم وعلی بابها . (زه دعلم ښاریم او علی یی وردی) .

محمد وویل : که دعلی «رضی الله عنه » وینا سند وای ، خو پیغمبر «صلی الله علیه وسلم » به فرمایلی وای چی تاسی ته می دخدای کتاب ، سنت او علی «رضی الله عنه» پریښودل ،ولی یی وویل چی دخدای کتاب او سنت می درته پریښودل : شیخ قمی وویل :پیغمبر «صلی الله علیه وسلم » بیادافرمایلی دی: انی تارك فیکم الثقلین کتاب الله وعترتی (تاسی ته می دوه درانه شیان پریښودل ، یو دخدای کتاب او بل می عترت.

علی «رضی الله عنه » دپیغمبرد عترت (کورنی) مشرو . محمد دا خبره ونه منله

شیخ قمی دنوموړی حدیث له پاره داهل سنتو غټ غټ اسلامی کتابونه یادکړل (۷) او محمد دشیخ قمی په مخکی چپ پاتی شو ، غوښتل یی چی دهغه په ښود لو مدار کوکی شك وکړی . خو مجبور شو چی خبره واروی ئو داعتراض په توګه یی وویل : که پیغمبر «صلی الله علی وسلم» داسی فرمایلی وی چی ما دخدای کتاب او خپله کورنۍ تاسی ته پریښوده نو د خدای دپیغمبر سنت کوم شول ؟.

شیخ قمی وویل : درسول الله سنت له کتاب الله نه پرته دی ځکه درسول سنت دخدای دکتاب شرح ده او له کتاب الله نه درسول الله منظور په دغه حدیث کی قرآن او سنت یی شرح ده . محمد وویل : آیا عترت د قرآن شرح نه ده ؟ که پیغمبر عترت د دی له پاره پری ایښی وی چی قرآن شرح کړی او له بلی خوا یی خپل سنت د قرآن دشرح په توګه پری ایښی وی نو دسنتو د موجودیت په صورت کی عترت ته څه ضرورت دی بلکی یواځی سنت دقرآن دشرحی له پلوه کافی دي .

شیخ قمی وویل : له دنیا نه دپیغمبر په تلو سره خلك یوه شارح ته اړدی چی قرآن دوخت له غوښتنو سره سم تشریح کړی . او دخلکو اړتیاوی دقرآ ن له مخی ترسره کړی . او داکار تر پیغمبر «صلی الله علیه وسلم » وروسته عترت کولای شو . نو ځکه پیغمبر «صلی الله علیه وسلم» عترت له قرآن سره غبرګ کړ . او دواړه یی خپل جانشینا ن وټاکل .

زه په دی بحث هك پك شوم ، او محمد بن عبدالوهاب می دبوډا شیعه عالم په لاس کی دصیاد په منګولوکی راګیره مرغی وګڼله چی ځا ن نه شی خو ځولای .

لنډه داچی ما خپله ورکه په محمد بن عبدالوهاب کی موند له . البته دده زړه ورتیا او د دین دلو یانو په وړاندی بی‌طوره خیالی او داسی آزاده رایه چی هغه دقرآن او سنتو له پوهی نه لرله او په هیڅ یوه مذهبی لاربنود

حتي په خپلو ځلور ګونو خلفا وو هم اوښه و . زما له پاره په دې برخه کې غته خبره وه چې د ده له لارې د مسلمانانو په ټولنه کې خپل ما موريت تر سره کړم .

ره ښتيا چې د دې ځولن او په آستانه کې د هغه سپين ږيرې ترک ترمنځ ډېر فرق و . هغه د دين د لو يانو په وړاندې پر خپلو اعتقاداتو دغره غوندې کلک ولاړو چې هيڅ خوځولای نه شو . د ابو حنيفه رحمة الله عليه نوم به يې چې اخيسته ، نو دحنفي توب له امله به يې په او داسه يادا وه چې کله به يې بخارۍ (داهل سنتو ستر کتاب) رااخيسته نو په اوداسه به يې رااخيسته خو محمد بن عبدالوهاب به چې دابو حنيفه رحمة الله عليه نوم اخيسته نو په ډېر سپکاوي اوبې پروايی يادلوه اوويل به يې زه له ابو حنيفه رحمة الله عليه نه ښه پوهيږم . او دعوی يې کوله چې نيمايي بخارۍ شريف باطل دی .

ما له محمد بن عبدالوهاب سره لار واخيسته ، او دا به مې ورته ويل چې ته تر عمر «رضی الله عنه» او علي «رضی الله عنه» زيات خدای ته ګران يې او کله به مې ورته ويل . که ته د پيغمبر «صلی الله عليه وسلم» په وخت کې وای ته يې خپل خليفه کولی او هميشه به مې ورته ويل چې زه غواړم چې خدای اسلام ستا په لاس نوی کړي او ته يواځنی نجات بخښونکی يې چې اسلام له دغې انحطاط او ځوړتيا نه ژغورلای شي .

له محمد سره مې دخبرو تړون وکړ چې د قرآن په باب دخپلې پوهې او فکر له مخې خبر نه وکړو ، نه دصحابه وو او دمذهب د پيروانو دپوهې په رڼا کې .

هميشه به مو په ګډه قرآن لوسته ، او په ځينو ټکو کې به مو سره شخړه هم کوله . ما غو ښتل چې د دې پلان په پای کې محمد يو ځای دوه ځا يه پوځا ن اوچت وښيم او هغه به زياتره په دې برخه کې زما

درایی له منلو نه ؤ ده کوله او دهغه دمقام دمنلو په برخه کی به یی زمانه په ادعا لږ غور د دی له پاره کاره چی ځا ن یو آزاد او دمقام له میتی نه یو لری سړی وښیی او زما باور او عقیدی لاپر ځا ن زیات کړی .

یوه ورځ می ورته وویل ، او س جهاد فرض نه دی . ویی ویل ولی ؟ خدای نه دی فرمایلی چی ؟ جاهدالکفار ما ویل خدای فرمایلی دی چی «جاهد الکفار والمنافقین (توبه / ۷۳) : د کفارو او منافقینو سره جهاد وکړي »که دا آیت دجهاد په فرضیت دلالت کوی . نو پیغمبر «صلی الله علیه وسلم» ولی له منافقینو سره جهاد ونه کړ ؟ پیغمبر خو له منافقینو سره په خوله او وینادو جنگید . نو له کفارو سره هم جهاد په وینا او منطق سره فرض دی . ویلی :

پیغمبرصلي الله علیه و سلم له کفارو سره محاربه کړی ، ما ویل : له کفارو سره دپیغمبر «صلی الله علیه وسلم» جنگ دځا ن ؤ دفاع په وخت کی و ، ځکه کفارو غوښتل چی هغه «صلی الله علیه وسلم» ووژنی او پیغمبر «صلی الله علیه وسلم » یی دفع او دفاع وکړه .

بله ورځ می ورته وویل ، زه خو وایم چی متعه او مؤقته نکاح روا ده .

ویل : هیڅکله نه ! ما ویل خدای په قرآن کی فرمایلی چی : فما استمتعتم به منهن فاتوهن اجورهن (نسأآیه ٢٤) (چی څونګ مو له ښځونه ګټه واخیسته ، بدل او مزدوری یی ورکړی) . دا آیت د مؤقتی نکاح په رواوالی دلالت کوی ځکه که له یوی ښځی نه په پاکلی موده کی جنسی استفاده وشوه او اجرت یی ورکړشو هیڅ پروانه کوی .

محمد وویل : عمر «رضی الله عنه » متعه حرامه کړی او ویلی یی دی :

دوه متعی وی چی دپیغمبر «صلی الله علیه وسلم »په وخت کی حلالی وی خوزه یی اوس حراموم ، او کونکی ته یی جزاورکوم (٨)

ما ویل : ته خو وایی چی زه له عمر «رضی الله عنه » نه پوه یم نو

څنګه دعمر «رضي الله عنه» پیروي کوي ؟

محمد چپ شو ، او همدا یې دتصدیق او قناعت نخښه وه ، ځکه له دې کار سره یې بهرنی اغیزه هم وه ، جنسي غریزه یې په څپو شوې وه او ښځه یې هم نه درلوده ، ما ورته خبره وړاندې کړه ، څه کیږي زه او ته دواړه یوه ښځه په متعه واخلو ، او ولې له دې خوندہ محروم اوسو ؟

محمد سرو خوځاوه . درضایت مسکای په شونډو خوره وه چې زما تجویز یې ومانه . ما هم موقع غنیمت وګڼله او وعده مې ورسره وکړه چې متعه به ورته اخلم زما ټول هدف له دې پلان نه همداو چې له خلکو او عمومي افکارو سره د ده دنظر دمخالفت ویره ا و اندیښنه کمه کړم . هغه پرما داومنله چې خبره به دراز په توګه زما او دهغه تر منځ پټه وي ، حتی نوم به یې هم ښځې ته نه ښیم .

ما ځا ن له واره هغې مسیحي ښځې ته ورساوه چې په بصره کې دبریتانیا دمستعمرو دوزارت له خوا دمسلمانانو دفاسد ولو له پاره ګما رل شوې وه او په خبره مې وپوهوله صفیه نو م مې ورته غوره کړ ، اوپه تاکلي ورځ مې دیوې مسلماني ښځې په جامه بې ځنډه دمحمد بن عبدالوهاب کورته وروسته. کور تش و ، ما له محمد سره ګډه متعه صیغه ولوسته محمد یوه هفته دغه ښځه صیغه کړه او څو روپۍ هم دمهر په توګه ورته ورتا کلي . ما په دې یوه هفته کې صفیې ته لازم دستورونه ورکړي وو . هغه له دننه اوزه له بهرنه دمحمد بن عبدالوهاب په توجیه لګیاوم .

لنډه داچې صفیې وکړای شول چې پخپلو نازونو دمحمد زړه پوره تر لاسه کړي . داستبدادي ، اجتهادي او دنظر دآزادي او دفکري سر غړونې په سیوري کې یې له دین او مذهب سره دمخالفت خواړه پرې وڅکل ، صفیه درې ورځې دمحمد په کورکې پاتې شوه ، په دریمه ورځ زما او دمحمد تر مینځ دشرابو دحراموالي خبره توده شوه ، ما ورته وویل :

شراب حرام نه دی ، هغه به چی دشرابو دحرمت په باب په آیاتونو او حدیثونو هر څه استدلال کاوه ، مابه رد اوه . آخر مې ورته وویل: دا صحیح او ثابته ده چی معاویه بن ابو سفیا ن،یزید او بنی عباس خلیفه گانو شراب څواړه آیا دوی ټولو ته گمراها ن ویلای شو ؟ او رښتیا وایی ؟ په دی کی هم شك نه شته چی هغوی دخداي په کتاب او درسټول په سنتو پوهیدل ، خو دتحریم په آیاتونو نه پوهیدل ، بلکی هغوی داسی آیاتونه او آحادیث ښه نه گڼل . او پر دي سر بیره تورات او انجیل هم شراب مباح گڼل داڅنگه کیدای شی چی یوه دین کی دی شراب حلال وی او په بل کي حرام ؟ سره له دی چی ټول دینونه دیوه خدای له لوړی نازل شوی دی ؟ او دا خو په حدیثوکی راغلی چی د دی آیت «فهل انتم منتهون » (مائده /۹۱) تروختته عمر «رضي الله عنه» شراب څواړه (۹) او که شراب حرام وای نو باید پیغمبر عمر «رضی الله عنه » رټلی وای . چی دغه نه رټل په خپله دشرابو دحلالوالی دلیل دی . زما خبری ټکی په ټکی دمحمد په زړه کی دومره کیناستی چی زما د وینا په تائید کی یی وویل چی : په ځینی اخبار کی راغلی چی عمر «رضی الله عنه » به شرابو کی لړي او به اچولی او څواړه یی او ویل به یی چی نیشه کوونکی او مسکر شراب حرام دی او چی سکر او نیشه یی ما ته شوه نو حلال دی .

بیایی زیاته کړه لکه چی عمر «رضی الله عنه » دا ټکی له قرآن نه زده کړی و چی فرمایی : مائده / ۹۱: انما یریدالشیطا ن ان یوقع بینکم العداوه والبغضأ فی الخمرو المیسرو ویصدکم عن ذکرالله و عن الصلواة (شیطا ن غواړی چی په شرابخوری او جواری سره په تاسی کی دښمنی ا و کینه پیداکړی او تاسی دخدای له یاده او لمانځه نه منع کړی). نو که شراب مستی رانه ولی دغه کارونه (دخدای له یاد او لمانځه نه امتناع) نه کیږی . نو چی شراب مسکر او نیشه کوونکی نه وی حرام نه

دی .

ما صفیه دشرابو په باب له خپلو خبرونه خبره کړه او ورته می وویل نن شپه چی هر څنگه وی لږشراب پیدا کړه او وریی کړه ، صفیی هما غسی وکړل ، او سبا یی ما ته وویل . چی بیگا می خالص شراب په محمد وڅښل او دومره مست شو چی اپلتی یی ویلی او تر سها پوری مست و ، سهار می محمد کمزوری او بیسده ولید . نورنو ما او صفیی دهغه واکی پوره په لاس کی نیولی وی ، په هغه ورځ راته دمستعمرو دوزیر هغه قیمتی خبری راياد یدې چی دخدای پامانی په وخت کي یی راته ویل:

مونږ اسپانیا له کفارو (مسلمانانو) نه یواځی په شرابو او ناوړه چارو بیرته تر لاسه کړه . هیله ده ټول هیوادو نه په همدی دووپیاوړو قواوو ترلاسه کړو .

بیامی بوه ورځ له محمد سره د روژی په باب خبری وکړی او ورته می وویل : قرآن فرمایی : وان تصوموا خیرلکم (بقره / ۱۸٤) «که روژه ونیسی درته ښه ده »خو قرآن دانه دی ویلی چی دریاندی فرض ده (۱۰) نو روژه داسلام له نظره مستحب ده نه فرض . محمد څه فکری ټینگار وکړ او وی ویل : لکه چی غواړی ما له دین نه وباسی . ؟

ما ویل داڅه وایی ؟ دین خو دزړه پاکی او دروح سپیڅلتیا ده نورلاڅه وی ؟ ولی پیغمبر «صلی الله علیه وسلم» نه دی ویلی چی « الدین الحب » « دین مینه ده » او قرآن هم فرمایی : حجر / ۹۹: واعبدو ربك حتی یاتیك الیقین . (اوپروردگار دی تر هغه وخته و نمانځه چی یقین دی راشی) نو چی څه وخت پر خدای او دقیامت پر ورځ دانسان یقین راشی او زړه یی پاك شی ، هغه غوره انسا ن دی .

خو محمد زما په دی خبرو سر په نفی وخوځاوه او تر خبرو لاندی می نه شو .

بله ورځ مې ورته وويل : لمونځ فرض نه دی . ويل ولې ؟ ما ويل ځکه چې خدای په قرآ ن کې فرمايي : واقم الصلوٰة لذکری (طٰه / ١٤) (لمونځ د خدای ديادله پاره وکړه) نو له لمانځه نه دخدای ياد مراد دی . نوکه چاته خدای هميشه يادوی نو لمانځه ته څه ضرورت نه شته ؟

محمد وويل :«هو ما هم اوريدلي دی چې ځينو علماوو دلمانځه په وخت دخدای ذکر کاوه » په دی خبره يې ډير خو شحاله شوم او دامې وګڼله چې نور يې په عقل پوره سپوږ شوی يم ترديي خبرو وروسته مې محمد ليده چې په لمانځه ډير اړنه دی کله يې کړی اوکله نه خصوصاً دسهار لمونځ يې زياتره نه کاوه . او چې کله به دشپې يو ځای وو او تر نيمې شپې به مو خبرې کولې نو سهار به لمانځه ته دپاڅيدونه و او نه به يي کاوه .لنډه داچې په همدې ډول مې دمحمد له اوږونه دايما ن څادر راښکه يوه ورځ مې وغوښته چې دپيغمبر « صلی الله عليه وسلم » په باب يې زړه کې څه شك راپيدا کړم . خو سخت راته په غصه شو ويل:

که بيا دې داسې خبره وکړه ، نو زما او ستا ددوستی به څه پاتې نه وی . زه دهغه له داسې تروی تندی سخت وويريدم چې دراز ونو غوټه مې پرانه نيستل شي بيا مې ورسره دپيغمبر «صلی الله عليه وسلم » باب څه خبره ونه کړه خودامې پرې ومنله چې له شيعه او سنی نه پرته يوه دريمه لارپرانيسځې او هغه هم دادخپل غرورراو خود خواهی له وجهی ومنله . صفيې دمحمد زړه بيخې وړی و او ترهغې هفتې وروسته به محمد هميشه څو څو ځله په صفيې پسې ته او متعه کوله يې . نو ما دصفيې له لاری چې دمحمد يوه هميشنی معشوقه ګر ځيدلې وه وکړای شول چې دهغه واګې بيخې په لاس کې واخلم او دهدف په لوريې را کاږم .

يوه ورځ مې ورته وويل : داريښتيا ده چې وايي پيغمبر «صلی الله عليه وسلم» په خپلو يارانوکې وروروّلي ټينګه کړی وه ؟ ويل : هو. ما

ویل آیا داسلام احکام پواځې دهغه وخت له پاره وو که دهمیشه له پاره دی؟ ویل : دهمیشه له پاره دعملي کیدو وړدي . ځکه پیغمبر «صلی الله علیه وسلم » فرمایلی دی چی «دمحمد حلال تر قیامته حلال او حرام یی تر قیامته حرام دی ».

ما ویل : خو ښه دی نه ده چی له همدي او سه دورورې تړون وکړو ؟ هغه راسره ومنله او ترهغې ورځې وروسته په هر ځای کی په سفر او حضر کی دوروړپه توگه ورسره وم او دغه کرلی نیالگی می همیشه خړو باوه او میوی ته یی دتمی له پاره به می دخپل کار او پلان شرح همیشه وزارت ته لیږله . او په ځواب کی به یی دخپل دی کارد هڅونی او تشویق ځوابونه رالیږل دهدف په لوړپه څټکی روا ن وم او محمد می له ځا ن سره بیوه او دلړی شیبی له پاره تری هم نه بیلیدم . او غټ کار می داو چی دآزادی غوښتنی روح پکی پیاوړی کړم ، او داسلام داساساتو په باب یی مخالفت او تردید نور هم زیات کړم او همیشه به می ورته دیوی داسی روښانه راتلونکی چی تولنیز قیادت په لاس کی واخیستلای شی ، زیری ورکاوه .

یوه ورځ می ورته وویل : ما بیگا پیغمبر «صلی الله علیه وسلم » په خوب ولید ـ په همغو خصوصیاتو می ورته پیغمبر «صلی الله علیه وسلم » تو صیف کړ چی له منبر یانو (علما) او مذهبی مبلغینو نه می اوریدلی وو ـ گورم چی پیغمبر «صلی الله علیه وسلم » پر یوه تخت ناست دی یو شمیر علمأ او پوها ن چی نه می پیژندل ورنه را تاوو ،په دی کی ته راننوتی وجود دی ځلیده پیغمبر «صلی الله علیه وسلم » دی ددرناوی له پاره پاخید او پر تندی یی ښکل کړي ، او درته ویی فرمایل : محمده ! ته زما همنومی زما دعلم وارث او جانشین یی . تا ویل : یارسول الله ! زه خلکوته له قرآن نه دخپلی « اخیستی » پوهی له څرگند ولو و یریږم . پیغمبر «صلی الله علیه وسلم » وفرمایل : مه

ویربړه ته تر ټولو او چت او غوره یی .

دغه جوړ کړی خوب می محمد ته ووایه ، له خوشحالی نه نژدی الوتی و . بیا بیا به یی پوښتنه کوله ، رښتیا وایی ما ویل هو همداسی می لیدل.

فکر کوم له همغی ورځی نه محمد بن عبدالوهاب خپل مرام ښکاره کول وغوښتل .

پنځم یادداشت

په بصره کې دمحمد بن عبدالوهاب د پلان جوړو لو په وخت له لندن نه د یوی ابلاغیی په ترڅ کې مؤظف شوم چې کربلاو نجف ته لاړشم . دغه دواړه ښارونه دنړی دشیعه گانو د پام وړ او دروحانیت مرکزونه یې دي .

دا دواړه ښارونه یوه کیسه لري :

خو « نجف » یو داسې ښاردی چې داهل سنتو له نظره د پیغمبر «صلی الله علیه وسلم » د څلورم او دشیعه وو له نظره دلومړی خلیفه د ښخیدوله امله ودا ن شوی . دنجف په یوه فرسنگ کې « کوفه » یو ښاردی چې دعلی «رضی الله عنه » دحکومت مرکز و . او چې څه وخت علی «رضی الله عنه » ووژل شو ، زامنو یې (حسن رضی الله عنه او حسین رضی الله عنه) له کوفې نه بهر چې نجف ورته وایی ، ښخ کړ . او له همغې ورځې دا ځای لږ لږ ودا ن شو او چې څو مره نجف ودا ن شو هغومره کو فه ورانیده .

په نجف کې یو شمیر علما او سی ، هملته کورونه ، مدرسی او دوکا نونه لري او اوس دشیعه علما وو مرکز نجف دی په آستانه کې عثمانی حکومت دنجف له علمیه حوزی نه ویریږي او دهغوی په وړاندی تواضع او درناوی کوی او داله څو پلو :

۱ـــ یو خو داچې دایرا ن دولت شیعه دي او تقریباً دهمدوی په لاس کې دی ، او که عثمانی دولت یی په وړاندی ډیر لږ سپکاوی او ناغیړی

وکړی دایرا ن او عثمانیا نوتر منځ فضا پری خپرېږی نو دنجف دعلما وو په ډیر لږ سپکاوی هم ددواړو هیوادو تر منځ د جګړی اور بلوی .

۲ــــ دنجف په شاو خواکی زیات داسی قبایل او سی چی دنجف دتقلیدی مرا جعو او مذهبی مشرانو په حکم چلیږی . او دغه قبایل ټول په وسله سمبال دي ، که څه هم وسله یی منظمه او زوروره نه ده ، خو بیا هم دوی په خپله ددولت په وړاندی داخ وډب په وخت کی یو پیاوړی قوت دي .

۳ــــ داعلماً په ایرا ن ، هند افریقا او عربی هیوادو کی دټولو شیعه ګانو مراجع او دینی مشرا ن ګڼل کیږی او که دولت یی په وړاندی ډیر لږ سپکاوی هم وکړی ، شیعه ګا ن به پری له هري لوری راما ت شی.

خو دکربلا کیسه : کربلا دعلی «رضی الله عنه » او فاطمی «رضی الله عنها » دزامنو او دپیغمبر «صلی الله علیه وسلم » دلسمو حسن او حسین (رضی الله عنهم) تر وژلوروسته جوړ شوی ښاردی . دعراق خلګو حسین (رضی الله عنه) راوغوښت چی له حجاز او مدینی نه راشی ، چی خلیفه یی کړی ، هغه چی دا بلنه ومنله او کورنی یی دکوفي په دولس فر سنګو کی پرتی کربلاته ورسیدله ، کوفیا ن تری ستانه شول ، او په شام کی داموی وا کمن یزید بن معاویه په امر دحسین «رضی الله عنه »پرخلاف لښکر راولیږل شو حسین «رضی الله عنه » او توریالی ملګری یی ورسره په نره تر مرګه وجنګیدل . اموی لښکر و په دغه جګړه کی له ډیری سخت زړی او زیاتی نه کاروا خیست . ترهغی وروسته دنړی شیعه ګانو دغه ښار او دحسین «رضی الله عنه » مدفن خپل ستر روحی او معنوی مرکز وګر ځاوه .او له هر لوری به دزیات له پاره پری داسی را مات وو چی مونږ یی په

مسیحیت کی ساری نه لرو .

دکربلا دغه ښار هم ډیری مدرسی لری ،او یو شمیر شیعه علما هم دلته اوسی . او دکربلا او نجف علما سره یو دبل ملاتړ او دګډ هدف خاوندا ن دي او دغه دواړه ځایونه دشیعه ګانو له پاره یو نړیوال علمی مرکز ګڼل کیږی .

زه دخپل ما موریت په لړکی له بصری نه بغداد ته لاړم ، بغداد دعراق د حکومت له پاره دعثمانی دولت له خوا دمقرر شوی واکمن مر کز و .له هغه ځایه « حِلّی» ته لاړم حله دفرات سیند پر غاړه پروت ښاردی .

فرات او دجله دواړه داسی ستررودونه دي چی د ترکیې په غرونو کی یی سر چینه ده ، دعراق له ځیګره وځی او سیندته لویږی . دعراق دخلکو کر کرونده او سو کالی په همد غو دوو نهرونو پوری تړلی ده .

زه چی لند ن ته ستون شوم . دمستعمراتو وزارت می پوه کړچی د دغو دواړو نهرو نو دسر چینو د خپلو لوله پاره یوه نقشه جوړه کړی ، ځکه دادعراق دنیولو له پاره یو ډیر ستر پلا ن دی .

له حِلّی نه نجف ته دیو آذر بایجانی سوداګر په جامه لاړم . دنجف له علما وو او دینی ټولیو سره می مینه او راشه درشه پیل کړه . درسی غونډوته به یی ورتلم . دهغوی سختی تقوی ، پاکلمنی ، روحی سپیڅلتیا او دعلم او پوهی فطری توب ته حیرا ن و م ، خو پوه شوم چی دزمانی غو ښتنی بی له پامه غورځولی دي او دخپلی وضعی دبدلو ن په باب څه فکرنه کوی . څو خواوی مي یی وکتی :

۱ــ دعثمانی دولت سخت دښمنا ن رو او هغه هم له دوو خواوو :

یو داچی دولت سنی واودوي شیعه .بله داچی عثمانی دولت پری داسی زور راوستی وچی د دوی دآزادی مخنیوی یي کاوه ، حتی دومره اجازه یی نه ورکوله چی خپل زور او قوت ته ځیرشی او له دغی

تنکسی نه ځا ن وباسی .

۲ــــ د دوی ټول زور اوا نرجی بس په دینی علوموکی لګیده او مادي علوم یی بیخی شا ته کړی وو .

۳ــــ دنړی په سیاسی چارو کی یې فکرنه کاوه او په دي خبر نه روچی شاو خواته یي څه تیریږی .

ما به له ځا ن سره ویل : دا خوارا ن څو مره په غفلت کی دی . او نړی څو مره ویښه ده .

زه همیشه په دي لټه کی وم چی دنجف علمأ دعثمانی دولت پر خلاف راوپاروم خو هغوی راته غوږنه ایښود ه ، او ځینو به راباندی ملنډ ي وهلی ، لکه ما چی پری دنیاړنګوله . هغوی ته عثمانی حکومت داسی ښکاریده لکه یونه خو ځول کیدونکی دغځیدلو جرړو قوت ، چی یواځی دامام مهدی پاڅون یی خو ځولای او نړولای شی .

دشیعه ګانو په نزد امام زما ن دپیغمبر «صلی الله علیه وسلم » یولسی او دهغوی دولسم امام دی چی داسلامی حکومت تر رامنځته کیدو (۲۵۵)کاله ورسته پټ شو اوتر ننه هم ژوند ی دی ؛ خوورك . او په یوی خا صی راتلونکی کی راڅر ګند یږی او پر نړی به عدل او انصاف خپور کړی ؛ خو له ظلم او زیاتی نه ترډکیدووروسته .

ما یوه ته وویل : آیا دپیغمبر «صلی الله علیه وسلم » په څیر پر تاسی فرض نه ده چی ظلم او تیری سره مبارزه وکړی ؟

ویل : هغه خو پیغمبر و او خدای ورسره غیبی مرسته کوله .

ما ویل تاسی هم پاڅئ ، له تاسی سره به غیبی مرسته وکړي . قرآن نه وایی چی « ان تنصروا الله ، ینصرکم » (او که د خدای مرسته مو وکړه ، خدای ستاسی مرسته کوي)

ځواب یی راکړویی ویل : ته سوداګر سړی یی په دی خبرودی سر نه خلاصیږی .

دعلی «رضی الله عنه» قبر یی هر راز ښکلی کړی دی یو ښکلی حرم لری چی له پاسه پری د سروزروگومبزه ځلیږی او دسروزرودوه مناري لری . چي شیعه گا ن یی ورځ تروروځ نوره هم ښکلی کوی او په گڼه پکی لمونځ کوی او له قبرنه راتاوی پنجری ښکلوي . پر امام سلام اچوی ، او دور ننوتو په وخت کی اجازه غواړی ، دحرم شاو خوا یو لوی غولی دی ، چی ډیری وړی وړي کوټی پکی دي او زیارت کوونکی او طالبان پکی اوسی .

په کربلاکی دنجف دحرم په څیر دوه حرمه دي ، یو دحسین «رضی الله عنه» او بل یی د وروروعباس «رضی الله عنه» دی چی په کربلا کی ورسره ووژل شو . شیعه گان د کربلا پدی حرم کی هم همغه څه کوی چی د علی (رضی الله عنه) په حرم کی یی کول . کربلاد اوبو او هواله پلوه تر نجفه ښه ده او دښار شاوخوا با غونواوروانو اوبو راایساره کړی ده .

په دی مسافرت کی چی عراق پلوته لاړم ، خو اشینونکی وضع می ولیده . د«آستانی» له خوا دلته مقرر واکمن او والی یو ظالم او ناپوه سړی وه څه یی چی زړه غوښتل هغسی امریي کاوه . لکه خلك یی چی مینځی او مریی وی ملت تری ټول خفه و .

خو شیعه گا ن تر ی ځکه خفه وو چی حکومت یی دآزادیو مخه نیولی وه او په سخت خفگا ن کی یی راگیرکړی وو. او سنیا ن تری په دی خفه وو چی هغوی اصلی عرب وو او دایی نه منله چی له خپلو لویا نو او مخورو پرته دي دیوه ترك سړی حکومت پر ځا ن ومنی .

ښارونه ورا ن، خلکو دښار ونو په ناولتیا وو او میکروبی سیمو کی ژوند کاوه . لاری بد امنه ، په لاروکی به کاروانونه وهل کیدل ، زیاتره کاروانیا ن به دوسله والو ساتندویانو او څارندویانو په ملگرتیا تلل.

د قبایلو تر منځ سختی شخړی او دښمنی وي ، داسی ورځ به نه وه

چی یوی قبیلی به پر بلی نه بلو سل او مرگ ژوبله به پکی نه کیده .

نا پوهی او بی سوادی هم په حیرانوونکی توگه په خلکو کی خپره وه.

دنا پوهی او بیسوادی وضعی یی ما ته زمونږ پر هیوادد یهودو دتسلط وخت یاداوه .

په کربلا او نجف کی له طالبانو او مذهبی شخصیتونو او یوکم شمیر هغو کسانو چی په دوی پوری یی اړه درلوده په زړوکی له یو لیکونکی او لوستونکی پرته نور څوک نه پیدا کیده .

زه څلور میاشتی په نجف او کربلاکی پاتی شوم . په نجف کی دومره ناروغه شوم . چی له ژوند می تمه پری شوه ، دغړوسستوالی می ترهفتو او پړدشو . یوه طبیب ته ورغلم دهغه په درملو می یو څه ښیگړه وشوه.

رنځوری را باندی اوړی کی راغله اوړی ډیر گرم و د رنځوری شپی می په زیر زمینی کی چی « سرداب » یی ورته وایه تیری کړی ، دکاله له خاوند ، می په کرایه اخیستی وه هغه می دتمی له امله پر ستاری کوله ، خواړه او درمل یی راوړل او راته ویل یی داهر څه درسره خدای جهتی کوم ؛ ځکه ته دامیرالمؤمنین «رضی الله عنه » زایریی .

دناروغی په لومړیو شپو کی می خواړه خالی ښورواوه . بیا راته طبیب لږه غوښه هم وښو ده ، او درنځوری په آخر کي یی دچرگ له غوښی سره وریجی راته وښودي . له رنځوری نه چی ښه شوم له نجف نه بغداد ته لاړم .

د نجف، کربلا ،حِلّی او بغداد له مشاهداتومي یو سل مخیز راپورتیار کړ او په بغداد کی می دمستعمرودوزارت نماینده ته وسپاره او په خپله دوزارت حکم ته سترگی په لارشوم چی په عراق کی پاتی شم او که لند ن ته لاړشم ؟ خو لند ن ته د تلو ډیر تږي وم ،ځکه مسافری می ډیره اوږده شوی وه . او په وطن ، ښځی او زوی پسی می زړه ډیر خفه و . خصوصاً ددی لیوال وم چی هغه یواځنی زوی می (سبوتین)چی زه یی لانه وم لیدلی ژر ووینم .

نوپه یوه بله پاڼه کی می له وزارت نه درخصتی اجازه وغوښته چی کورته

لاړشم . ځکه په عراق کې می دسفر دری کلنه موده تیره کړی وه . په بغداد کی دمستعمرو دوزارت نماینده راته وویل : همدلته پاتی شه او بغداد ته دځواب تر راتګه ونه وځی . ما هم ددجلی رود پر غاړه یوه هوټل کی کوټه واخیسته ، چی راباندی بد ګومانه نه شی .

په بغداد کی داستوګنی په موده کی می په دی غور کاوه چی ددی ښار داوضاع او دعثمانی هیواد د پایتخت تر مینځ څو مره فرق دی .

تر کا ن دا غواړی چی عراق وځپی ؛ځکه عراقیا ن عرب دی او حکومت د دوی له شره آما ن نه دی . له هغی ورځی چی له بصری نه راوتلی وم ، دمحمد بن عبدالوهاب په باب ډیر اندیښمن وم او پری ویریدم چی هغه زما ورښوولی لارښری نه پردی ، ځکه هغه ډیر رنګین مزاجی او قهر جن وه وضع یی ژربدلیده ، او زه تری همیشه په ویره کی وم چی دمحمد بن عبدالوهاب په لړ بدلو ن سره زما ټولې خواری او به یو نه سی .

زه چی تری رابیلیدم هغه غوښته چی عثمانی مرکزآستانی ته لاړشی ؛ خو ما منع کړ ، او ورته می وویل هلته حالات دومره تنګ دی چی کیدای شی تا دخپلو عقایدو دخرګند ولو په وخت کا فر کړی او ودی وژنی ، هغه ته ماهسی داخبره وکړه خو ډیره ویره می له دی وه چی له ځینو داسی علما ووسره مخ نه شی چی له خپل کړ لیچ او بیلاری نه یي وانه ړوی او داهل سنتو په لاریی سیخ نه کړی او زما ټولی هڅی خاوری نه شی .

لنډه داچی پوه شوم چی محمد په بصره کی پاتی کیدل نه غواړی ورته می وویل اصفها ن او شیراز ته لاړشه ، ځکه دادواړه ښکلی اوودان ښارونه دی . خلك یی شیعه ګا ن دی . او داډیره لری وه چی شیعه ګا ن پر محمد اثر پر ي باسی له دی امله خو یی زه له ورښودلی لاری نه په نه لری وتو ډاډه وم .

څه وخت چې زه له محمد نه رابیلیدم ورته مې وویل : ته پر «تقیه »ایما ن نلرې ؟ ویې ویل هو دپیغمبر «صلی الله علیه وسلم » یو صحابي وه (فکر کوم «محمد » به مقداد«رضی الله عنه » ګڼلی وي)څه وخت چې دمشر کینو په لاسوکې ګیرو او موروپلاریې ورته ووژل هغه تقیه وکړه . او دخپل نجا ت له پاره یې دخپل مشر کوالی اظهار وکړ. ورته مې وویل : که هلته لاړې ، نوله شیعه ګانو نه تقیه وکړه .

او ورته مه وایه چې اهل سنت یې ، چې له کړاو سره مخ نه شې او دهغه ښار له ښکلې هوا اواوبونه استفاده وکړه دخدای پامانی په وخت مې محمد ته یو موټی پیسې د زکاة او دسفر خرڅ په نا مه ورکړې (زکاة یو ډول مالیه ده چې مسلمانا ن یې داسلام او مسلمانانو دګټې له پاره ورکوي) او یو څاروی مې ورته دسورلی له پاره واخیست او ورومې باخښنه او ترې رابیل شوم .

له هغه وخت راهیسې بیا پوه نه شوم چې محمد چیرته لاړ او څه شو؟ یو له بل سره موټرون کړې و چې که له موږ دواړونه هر یو بصرې ته راغی ، او هلته یې پاتې کیدل نه غوښتل ، اوخپل دوست یې ونه کوت ؛ نو عبدالرضا « نجار » ته دې لیك وسپاري . او په هغه لیك کې دې ولیکې چې چیرته ځي ، چې ملګرې یې ترې خبر اوسي.

شپږم یاد داشت .

په بغداد کی تر یو څه انتظار وروسته راته دوزارت خبر راغی او زه یی لندن ته وغوښتم . له واره لندن ته روان شوم او وزارت له ورتلو سره می سکرتر او دوزارت ځینی نور غړی وکتل او خپل دری کلن مشاهدات اوپلانونه می ورته وړاندی کړل . زما دفعالیت له طرز نه ډیر خوشحال شول دخپل کار دپلان تفصیل می ورته راولیږلی و او دمحمد بن عبدالوهاب معشوقی صفیی هم ځینی داسی راپوروونه رالیږلی وو چی زما پلانونه یی تاییدول .

مونږ چی وزرات ما موریت ته لیږلو دماموریت په سیمه کی ځینی نور کسان هم په مونږ پسی ا چول . او زما خارو نکو چی په دغه سفر کی زما دکار په باب کوم راپورونه ورکړی ټول قانع کوونکی وو .

سکرتر زما له راتګه وزیر خبر کړ ، او له وزیرنه یی راته وخت واخیست ، له وزیر سره می په خاص دفتر کی وکتل ، زما یی زښت زیات احترام وکړ او ډیر لوریی راباندی وکړ . داځل راسره د آستانی له سفر نه دراستنیدو په مقایسه دوزیر چلند ډیر زیات فرق درلود او داسی یی راته وښوده چی مایی په زړه کی ځاي نیولی دی پدي چی دمحمد بن عبد الوهاب غوندی یوخوك می پیدا کړی ډیر زیات خوشحاله شو .

ویی ویل :وزارت په همداسی ورکی پسی ګرځیده او ټینګار یی وکړ چی له لاسه یی ورنه کړی . اوهر څنګه چی غواړی دکارتړون ورسره کلك کړه . او که دغو ټولو زغملوکړاو ونوکی دی د دی سړی له ترلاسه کولو پرته نورڅه

لاسته هم رانه ورل ، بیا هم ارځښت لری .

ما ورته وویل : او س اندیښمن یم چی دمحمد پای به څه شی ؟

وزیر وویـل : داډه اوسه هغـه او س هـم پـر همغـه لار روا ن دی چی تاوربښو دلی ده . زمونږ مأمورینو ورسره په اصفها ن کی کتلی او وزارت ته یی راپور رالیږلی چی هغه پر خپله لاررروا ن دی

ما له ځا ن سره وویل : محمد څنگه رازونه نورو ته هم ویلی دی ، خو دوزیر له ویری می تری پوښتنه ونه کړای شوه ، خو وروسته چی بیا له محمد سره مخا مخ شوم راته یی وویل : زه په اصفها ن کې له عبدالکریم نومی یوه سړی سره مخ شوم اوراته یی وویل : زه ستا دورور محمد « ۱۱ » ملگری یم چی په بصره کی یی له تاسره د دوستی تړون کړی و . او له همدی لاری هغه عبدالکریم هم چی دوزارت یو کارمند و دمحمد اسرار ترلاسه کړای شو . محمد بن عبدالوهاب وویل چی صفیه په اصفها ن کی هم راسره مخ شوه او دوه میاشتی صیغه می ورسره وکړه ، او بیاله اصفها ن نه شیراز ته لاړم . عبدالکریم می هم ملگری و په شیراز کی راته عبدالکریم یوه « آسیه » نو می هم متعه کړه آسیه تر صفیی ډیره ښکلی وه څه موده می له هغی سره په شیراز کی تیره کړه ، او وروسته څرگنده شوه چی عبدالکریم د جلفاله مسیحیانو څنې دیوه مسیحی مستعار نوم دی ، چی دوزارت یو کار مند دی او آسیه هم په شیراز کی دمستعمرو دوزارت دیوی مستخد می نوم دی .

لنډه داچی پر محمد بن عبدالوهاب زمونږ د څلورواړو تسلط ، هغه دوزارت داصلی هدف دعملی کولو له پاره ښه پوره تیار کړی و.

وزیر ، سکرتر او نورو دووکسوته چی نالیدلی و و ، دکار او احوال تر وړاندی کولو وروسته راته وزیر وویل : ته په خپل دغه فعالیت سره په وزارت کی یوه ستر منصب ته ورسیدی او په خپلوملگرو کی دلوړی مقام څښتن یی او زیاته یی کړه : سکرتر ته می حکم کړی د دولت

ځینی هغه اسرار چی ستا دپلا ن په عملی کولو کی مؤثر دی درته وسپاری .بیایی راته لس ورځی رخصتی راکړه چی له خپلی ښځی او بچی سره اوسم .

له وزارت نه راووتم ، او کورته لاړم دخپل کمکي زوی په لیدو (چی له ماسره یی شباهت درلوده او ایله یی خبری ما تولای شوی) ډیر خوشحاله شوم ، هغه به چی پل اخیسته ، ما به ویل چی زما دځیگر ټوټه زما په مخکی گرځی ، زما د ژوند خوږی شیبی همدغه لس ورځی وی چی له ښځی او بچی سره می تیری‌کړی ، په دغو لسو ورځوکی خپله هغه بوډی ترور(دپلار خور)مي هم ولیده چی دعمر وروستی شپی یی شمیرلی . په دی څو ورځوکی راته دهغی لیده ډیر ارځښتمن وو ، ځکه هغه زما دریم ماموریت ته تر تلګ وروسته له دنیا تللی وه . اود هغی مرګ زماپه روح ماته گڼه کړه ،

لسي ورځی دومره ژرتیری شوی لکه یوه ورځ ، وایی چی ښه ساعت ژرتیر یری ، دتر یخ غوندی خونه چی یو ساعت یی د پیړیو په شا ن تیریږی ، دلته می په نجف کی دناروغی شپی رایادی شوی. چی یوه ورځ یی راباندی دکال هو مره تیریده او تریخ خوند می یی او س هم په خوله کی دی . چی دژوندانه خوږواو خوښیو هغه تر خه لاندی نه کړل .

لس ورځی وروسته وزارت ته ورغلم سکرتر راسره دروند رو غبړ وکړ. لاس یی راته دومره په مینه کیمانه چی وروری یی تری احساسیده . راته یی وویل :

وزیر په خپله ما ته حکم کړی چی دوه ستر دولتی رازونه دروسپارم . په راتلونکی کی دی دپلانونو په عملی کولوکی گټوریدای شی . او داومنه چی دادوه رازونه په هیواد کی له ډیرولږو باوری خلکو پرته بل چاته معلوم نه دی . بیا یی له لاسه ونیولم او دوزارت یوی کوټی ته یی ننه ایستم چی عجیبه ننداره می پکی ولیده :

په کوټه کې شاو خوالس کسه ناست وو ، يو پکې عثماني سلطا ن و چې هم يې ترکي خبرې کولې او هم په انګليسي ، دوهم په آستانه کې دسنيانو دشيخ الاسلام په جامه کې، دريم دايرا ن پاچا، څلورم دشيعه عالم په بڼه، دغو دواړو په فارسي او انګليسي خبرې کولې اود هريوځنګ ته يو منشي او يو کاتب ناست و .

دڅلور کسه په دغو څيرو هغه څوك وو چې په دغو مختلفو هيوادو کې دوزارت دجاسوسانو او کارمندانو هغه راپوروڼه چې راغوڼه يدل ، او په دوی پورې مربوط وو دوی ته راتلل .

له دغو څلورو ځنې هريويې دوزارت دهغو معلوماتو يوه مجموعه وه چې تردي وخته راغونډشوي وو .

سکرتر راته وويل : داداصلي اشخاصو دڅيرو مثالونه دي چې مونږ کټ مټ دهغوی په څير جوړ کړی دی . چې په دې وپوهيږو چې هغوی څه رنګ فکر کوی ،پوهه او سيا ست يې په کومه سويه دی ؟ ويې و يل: که غواړې ازميښت پرې وکړه .

فرض کړه او س له يوه شيعه عالم سره مخامخ شوی هر څه چې غواړې له دې سره نه چې دهغه په څيره دی پو ښتنه وکړه . ما وويل : ډيره ښه ده ، دشيعه عالم مثال ته مې وويل :

محترما ! مونږ ته له عثماني حکومت سره جنګ جايزدی ځکه دايو متعصب سني حکومت دی ؟

مثال ځواب راکړ : دسني توب له وجهې له حکومت سره جنګ جايزنه دی . ځکه مسلمانان ټول سره وروڼه دی . مونږ بايد يواځې له دې امله حکومت سره مبارزه وکړو چې داسلام او مسلمانانو حقوق او حدود يې پايمال کړی او دمسلمان ملت او امت چارې تر پښولاندی .کوی مونږ بايد ورسره ددې له پاره مبارزه وکړو چې له جناياتو او ناوړه چارونه لاس واخلي ، او چې څه وخت يې له دغه جنايته لاس واخيست ، مونږ ورسره هم مبارزه پريږدو .

ما ویل : محترما ! یهود او نصاری پلیت دی ؟ که نه ؟ ویل : هو دوی نجس دی او ځا ن ساتل تری واجب دی ماویل : ښاغلیه! نظافت دایما ن جزنه دی ؟

که وی ، نو لاری دجوماتونوغولی او مدرسی ولی دومره ناولی دی ؟

ویی ویل : څه وکړو او به کمی دی او حکومت هم دعامی روغتیا څه خیال نه ساتی .

عجیبه ! دغه ټولي مسئلی په نجف کی ما له یوه شیعه عالم نه وپو ښتلی او هغه کټ مټ همدا ځوابونه راکړل البته دی بدل عالم یوه جمله زیاته کړه او هغه داچی :

حکومت دعامی روغتیا څه خیال نه ساتی داجمله په نجف کی هغه اصلی عالم ونه ویله . دی بدل (مثال) به داسی فارسی خبری کولی لکه په نجف کی چی شیعه علما و کولی .

سکرتر وویل : که له دي نورو دریو سره هم خبری وکړی دوی به هم درته له اصله سره کټ مټ یو شا ن ښکاره شی . که اصلی خلك دی یی لیدلی وی دوی از میبلای شی .

ما ویل : دشیخ الاسلام له فکری طرز سره بلد یم ځکه په آستانه کی می استاذ (شیخ احمد افندم)دهغه دخولی خبری کولی .

سکرتر وویل : ډیره ښه مهربانی وکړه .

زه دشیخ الاسلام له بدل او مثال سره کینا ستم ماویل محترم افندم : آیاد سلطا ن اطاعت واجب دی ؟

ویل : هو زویه! دسلطا ن اطاعت دخدای او رسول غوندی واجب دی.

ما ویل : ولی؟ ویل : دا آیت دی نه دی اوریدلی چی خدای فرمایي (اطیعواالله واطیعواالرسول واولی الامرمنکم (نسأ / ٥٩) (دخدای ، دخدای درسول او واکمن اطاعت وکړی.)

ما ویل : که دهر سلطا ن ،واکمن او اولی الامر اطاعت دخدای له لوری

واجب وی نو خدای څنګه خلکو ته دیزید بن معاویه په څیر دفاسقو او جنایتګرو داطاعت حکم کوی چی دپیغمبر «صلی الله علیه وسلم» لمسی وژنی، دمدینی خلك له یو مخی وژنی او دجرارش لښکر دمسلمانانو پر ناموس تیری کوی او خدای داسی حکم فرمایی چی دولید بن عبدالملك په څیر فاسق او شرابی سړی اطاعت وکړی ؟

ویل : زویه! یزید دپیغمبر «صلی الله علیه وسلم» خلیفه او دوخت امیرالمومنین وه دحسین «رضی الله عنه » په وژلوکی تری سهوه وشوه او بیا یې توبه وایسته پاتی شوه د مدینی دخلکو وژنه دمدینی اوسیدونکی خو ددغه راز وژنی مستحق وو ځکه دوخت دحکومت پر خلاف راپاڅید لی وو ، نو یزید باید وژلی او ټکولی وای . دولید شرابخوری خو ځکه څه خبره نه وه چی هغه له شرابو سره او به ګډولی او خواړه یې. داپه اسلام کی جایز دي .

ما له شیخ افندم نه هم داپوښتنه کړی وه او هغه هم په لږ اختلاف سره همدا ځواب راکړی و .

ما سکرتر ته وویل : د دی مثالونو او بدلو نوکته څه ده چی دلته مرتیار کړی دی ؟ وبی ویل : دابدلونه دمسلمانانو دسیاسی او دینی شخصیتونو دسیاسی فکر نماینده اوښکارندوی دی . که مونږ له یوه لښکر سره مخا مخیدل وغواړو او ددښمن په لور دمخنیوی له پاره لښکرولیږو لومړی باید د دښمن دپو ځونو تګلوری ښه ځانته معلوم کړو مونږ باید دمسلمانانو سیاسی طرز او دسیاسی شخصیتونو دفکر سطح وپیژنو ، چی دهغوی دسیاسی نقشو په وړاندی نقشه تیاره کړو او سیاسی فعالیتونه یی شنډ کړو او دهیواد په سیاسی او اداری چاروکی یی درز پیدا کړو او باید دمذهبی شخصیتونو داستدلال په طرزاو دفکر په سطح وپو هیږو ، چی د استد لالونو دردله پاره ځوابونه برابر کړو چی په دی توګه دمسلمانانو په مغزو کی د دغو شکونو په ځایو لوسره

دهغوی عقیدی زیانمنی کړو .

بیا سکرتر ماته یو زر مخیز کتاب راکړ ، چی پکی دمسلمانانو دآزادی اواستقلال دبنسټ دنړولو، کمزوریواومختلفو نقشو په باب اټکلو نه وو چی دمسلمانانو سیاسی او مذهبی مقاماتو سره دمستعمرو وزارت دکارمندانو او جاسوسانو دچلند په باب دمختلفو راپورونو نتیجه وه .

کتاب می له ځا ن سره کورته یوړ او په اوږده کړی دری هفته ای رخصتی کی می ولوست او دسکرتر په وینا می بیرته وزارت ته وسپاره دکتاب دلوست په وخت کی دمسلمانانو داوضاع په باب دوزارت په څیړنو او تد قیق حیرا ن وم . او په سلو کی او یا پکی هغه څه لیکل شوی وو چی ما په خپلو ستر گو دمسلمانانو په غونډه کی لیدلی وو اود دو لت دسیاسی نقشو او اټکلونو په باب می ډاډنو رهم زیات شو او ډاډه شوم لکه په دی کتاب کی چی اټکل شوی عثمانی امپراتوری به له پیړی نه په کم وخت کي رانسکوره شی .

سکرتر وویل : دوزارت دماڼی په نورو کوټوکی دنورو مستعمرو او مستعمرو کیدو نکو هیوادو مربوط بدلونه او مثالونه دی .

ما سکرتر ته وویل : له اصل سره دابیخی سم مثالونه او بدلونه څنگ جوړوئی ؟ ویل : په ټولو ښارونو او هیوادو نوکی زمونږ کارمندا ن په مختلفو چاروکی راز راز راپورونه رالیږی مربوط راپورونه خپلو خپلو بدلونو او مثالونو ته وړاندی کیږی دغه بدلونه او مثالونه دهغه اصلی مقام دفکری او سیاسي چارو دپیژند و متخصصان دی .

دمثال په ډول : دعثمانی پا چا مثال د عثماني سلطا ن پر افکارو او سیاسی چارو داسی سوردی او په دی برخه کی دومره متخصص دی چی دهغه ډیر نژدی دوستا ن به یې هم دومره نه وی .

ښکاره خبره ده چی دیو چا دتفکر او سیاست په باب درته پوره اطلاعات تر لاسه شول او شپه او ورځ درته د هغه چا دافکار و په باب

اطلاعات دررسی ، چی تاسی یی په باره کی اندیښمن وئی ، ستاسی دفکر او نتیجه اخیستنی ارومرو دهغه په څیر کیږی نو ځکه خو بیا نقل یا بدل له اصله سره سم وی.

سکرتر وویل : داله هغو دوو رازو نو څنی لو مړی رازدی چی وزیر یی ماته ستاته ددر سپار لو امر کړی و . خو دوهم راز به درته یوه میاشت وروسته درسپارم ، چی دغه کتاب (هماغه زرمخیر کتاب) په غور او ژورتیاولولي ما کتاب ښه په غوررلوست او دمحمد یانو په باب راته تازه ټکی رابر سیره شول او ورسره می دهغوی دانحطاط او ځوړتیا وجهی تر لاسه کړی او دمسلمانانو د کمزوری ټکی می همداسی وپیژندل لکه دقوت او پیاوړ تیا عوامل یی چی راته روښانه شول . او په دی هم پوه شوم چی د دوی پیاوړی خصوصیتونه او دپیاوړتیا عوامل څنګه له منځه وړل کیدای او په کمزوری بدلیداي شی ؟

له کتاب نه د دوی دکمزوری رایستلی ټکي دادی .

۱ــ دشیعه او سنی تر منځ اختلاف، دملتونو او دولتونو تر منځ اختلاف ، دایرا ن او عثمانی دولت اختلاف ، دقبایلو تر منځ اختلاف، او دعلما وواودولت تر منځ اختلاف .

۲ــ ناپوهی او بیسوادی چی له یو کم شمیر پرته پری ټول مسلمانان اخته دی .

٤ــ آخرت ته دمذهبیانوخاصه توجه اوددنیا اودنیا یی ژوندانه په باب ناغیری اوناپامی.

۵ــ داسلامی دولتونو استبداداو دیکتاتوری .

٦ــ دلارو بدامنی او دډله یزو ارتباطی وسایلو نه شتوالی.

۷ــ دعامی روغتیا نشتوالی ، مسلما ن میشتی ښارونه همیشه دوباه او طاعون له میکرو بونوډك وی .

۸ــ دښارونو ویجاړ تیا او دځمکو شاړیدل، دویالو او کانالو نو ټپیدل

او دکروندی نیمگړتیا .
۹ـــ دمسلمانو هیوادودچارو په اداره کی داسې درائی استبداد او ملوك الطوائفی چی نه پکی قانون او نظام ته ضرورت پاتی دی او نه مقیاس او میزا ن ته .
هر څوك دهری اداری او مو سسی په سرکی خپلواك ،خپلسری او خپل رایه دي چی هر څه وغواړی هغه کوی البته په ښکاره دقرآن درناوی کوی خو قرآن یی له نظره قانونی ارځښت له لاسه ورکړی دي
۱۰ـــ سخته اقتصادی کمزوری، فقر په ټولو ښارونو او کورنیو کی خپوردی .
۱۱ـــ دمنظم پوځ او مجهز و جنگی وسایلو نشتوالی او دزړو او له کاره لوید لو وسلو شتوالی .
۱۲ـــ ښځی کم ګڼل او دهغوی دحقوقو تلفول .
۱۳ـــ زیاتی ناولتیا وی چی واټونه او بازارونه پری ډك دی او ژوندیی ورته ککړ کړی دی .
په دغه کتاب کی ددغو کمزورو ټکو تر یادولو وروسته داټکی هم راوړل شوی و چی د اسلامی قانون اصل او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم» دستور ددغو پر خلاف دی نو داسی یو کار په کار دی چی مسلمانان دخپل دین له حقیقت نه خبر نه شي چی دغه کمزوری ټکی پکی ثابت پاتی شی .
په نوموړی کتاب کي دغولاندی ټکوته اشاره شوی وه چی اسلام د مسلمانانود اوسنی وضعی پر خلاف دی :
۱ـــ هغوی ته یی دوحدت، پیوستون ا و همکاری حکم کړی او قرآن فرمایی : واعتصمو ابحبل الله جمیعاً ولاتفرقواً (آل عمرا ن ۱۰۳ آیت) (دخدای پر رسی منگولی ولگوی او سره خوریږی مه)
۲ـــ هغوی یی دپوهی او زده کړی تر لاسه کولوته گمارلی او حدیث

دی چی «طلب العلم فریضه علی کل مسلم ومسلمته».
(زده کړه پر هر مسلما ن نر او ښځه فرض دي)
۳ــــ هغوی یی ویښتیااو هوښیاری ته بللی قرآن فرمایی :
فسیروا فی الارض (پر مځکه وګرځئ) « نحل ۳۶آیت » :
۴ــــ هغوی ته یی دعمرا ن او ودانولو حکم کړی قرآن فرمایی :بقره ۲۰۱ آیت : ومنهم می یقول ربنا اتنا فِی الدنیا حسنة وفی الاخره حسنة . « له دوی ځنی وایی : خدایه مونږ ته په دنیا کی نیکی راکړه او په آخرت کی هم»
۵ ــــ هغوی ته خدای دمشوری امر کړی دی او درای له تحمیل او استبداد نه یی منع کړی دی. قرآن وایی :وامرهم شوری بینهم (دشوری ۳۸ آیت)
(او ددوی چاری دخپلمنځی مشوري له مخی دی)
۶ــــ هغوی ته یی دلارودامنیت دټینګښت امر کړی دی. په قرآن کی یی ویلی دی: دملك -۱۵ آیت : فا مشوافی منا کبها (پر ځمکه روا ن شئ)
۷ ـ اسلام مسلمانانوته امر کړی چی دبد ن په سلامتی کی هڅه وکړی او روغتیا ته پام وکړی لکه په حدیث کی چی راغلی دی :
علوم څلور ډوله دي : ۱ ــــ دفقهی علم ددین دساتنی له پاره ۲ــــ طب علم د بد ن دروغتیا له پاره . ۳ــــ دنحوی علم په ویناکی له غلطیو نه دژبی دساتنی له پاره
۴ ـ دنجوم علم دوخت او زمانی دمحاسبی له پاره (۱۲)
۸ــــ او مسلمانان یی له طبیعی منا بعونه استفادی ته هڅولی دی قرآن فرمایی :
بقره - ۲۹ آیت: خلق لکم مافی الارض جمیعاً (پرځمکه هر څه خدای ستاسی له پاره شته کړی دی .) .

۹ــ او هغوی ته یی په چاروکی دنظم او سمون حکم کړی دی قرآن وایی : وانبتنا فیها من کل شئ موزون (الحجر ۱۹ آیت)
(په دی (ځمکه) کی مو هر څه منظم راټوکولی دی)
په حدیث کی دی چی : ونظم امر کم (چاری مو منظمی کړی)
۱۰ــ اواسلام مسلمانانو ته په خپل اقتصادی ډگر کی دزیارحکم کړی دی . په حدیث کی دی چی : من لامعاش له لامعادله .
« څوك چی د معاش دتامین وسیله نه لری دآخرت نیکمرغی به یی په برخه نه شی »
۱۱- دپوځی قواواو جنگي تشکیلاتو دسمون اوبرابرولو حکم يي ورته کړي دي ، قرآن فرمايي: انفال ۶۰ آیت : واعد والهم ما استطعتم من قوة .
« څومره مو چی وسه وی (ددښمن پر خلاف) قوت برابر کړی »
۱۲ ــ دپاکوالی حکم ورته کوی حدیث دي چی «النظافة من الایما ن
« پاکوالی دایما ن جز دی ».
۱۳ــ دښځو د حقوقو ساتني ته ئي هڅوي قرآن فرمائي.
و لهن مثل الذي عليهن بالمعروف (بقره: ۲۲۸ آيت)
(او ښځې د ترسره کړي کار په بدل کي د نیکي مستحقي دي)
په نوموړي کتاب کي د مسلمانانو د پيا وړتيا عوامل او د ځينو شيانو دله منځه وړوتو صيه راغلي وه:
۱- قبيلوي ،کورني، نژادي ، جغرافيائي او ژبني امتيازات د مسلمانانو له نظره بي ارځښته دي او ځانونه يو د بل خپل گڼي.
۲- سود ،احتکار (دگراني په نيت زير مه کول،) ناوړتيا،شراب اوبد ځنا ور ناولي گڼي.
۳- له خپلو عالمانو سره ډير مينه لري.
٤- سنيان د خپل واکمن ډير احترام کوي او د پيغمبرصلي الله عليه

واله وسلم نماينده ئي گڼي او اطاعت ئي واجب بولي.
٥- جهاد او له دښمن سره مبارزه ورته فرض ښکاري.
٦- شيعه گان د هر دين او مذهب غير مسلمان پليت گڼي.
٧- اسلام تر ټولو دينونو اوچت بولي او په نړي کي تر اسلام اوچت دين نه پيژني.
٨- شيعه گان په خپلو ښارو نو کي د يهودي کليساوو جوړول نه پريږدي.
٩- دزياتره مسلمانانو داخيال دي چې يهود او نصارى دى له جزيرة العرب نه ووځى .
١٠- پردري گونو (لمونځ ، روژه ، حج) عباداتو سخت ټينگ ولاړدي
. ١١- شيعه گا ن د پنځمى (خمس) ورکول فرض گڼى او دخپلى گاللى گټى پنځمه خپلو علما ووته ورکوي.
١٢- پر خپلي اسلامي عقيدي سخت ټينگ ولاړ دي .
١٣- خپل اولادد خپلو مسلمانانو پلرونو او نيکونو په ځير روزى.
هيڅ يو زوى دخپل پلار له لاري بيليداى نه شى .
١٤- ښځى يي ستر منى او محجوبى دى ، نو ځکه يى په ټولنه کى فساد او ناوړتيا وى نه خپريږى .
١٥- دجمعى (جماعت) لمونځ پکى رواج دى . او دهمدى پروگرا م له مخى دورځى څو ځله سره راغونډ يږى .
١٦- دپيغمبر صلي الله عليه واله وسلم ، دهغه داولادى او دمذهبى لويانو قبرونه دهغوى دراغونډيد و مرکز ونه دى . او ددغو قبرونو دزيارت په نامه سترى غونډى کوى .
١٧- شيعه گان ډيرى تکيه خانى او حسينيى لرى چى دوير او ماتم په وخت کي پکى راغونډيږى او واعظان او خطيبان پکى وينا وى کوى او دايما ن ساتنى او ښيگړى ته يى هڅوى .

۱۹- پر نیکیو امر او له بدیو منع (ملی ځارنه) ددوی له نظره فرض ده .

۲۰-په واده ډیر ټینگ دی او دنسل زیاتوالی او دښځو دشمیر ډیر ښت سنت گڼی .

۲۱- د دوی له نظره که یو څوک یو کافر مسلما ن کړای شی داتردی غوره ده چی ده ته دنیاورکړشی .

۲۲- هغوی په دی عقیده دی چی که څوك دسنتو یادیوه نیك کار بنسټ کیږ. دی ټول هغه نیك او عبادتی کارونه چی د دغوسنتو پر بنسټ ترسره کیږی په ده پوری اړه لری .

۲۳- قرآ ن او حدیث دوی ته ډیر ارځښت لری ، او ددغو دواړو پیروی دجنت او ثواب سبب گڼی .

دمسلمانانو دپیاوړ تیا او قوت دعواملو تریادونی وروسته په دغه کتاب کی دا توصیه شوی وه چی ددغو عواملو دله منځه وړلو او دکمزوریو دزیا توالی هڅه باید وشی . او ددغو دواړو پلانونو دعملی کولو دکیفیت لارښوونه یی کړی وه .

۱- داختلافاتو دزیاتولو یواځنی لار دهغو طبقاتو ترمنځ دبدبینی را منځته کول دی چی په خپلو کی سره په شخړه دي او داسی کتابونه خپرول پکار دی چی دغو اختلافاتو ته لمن ووهی . او ددی کارله پاره باید ښه پوره پیسی بیلی کړای شی .

۲- دهغوی دناپوهی او بیسوادی د ادامی له پاره باید دمدرسو د جوړیدو او کتابونو دخپریدو مخنیوی وشی او چی څومره کیداي شی کتابونه او علمی ذخیری یی له منځه یوړل شی او خلك د دینی مدرسو بد بین کړای شی چی خپل بچی مدرسوته ونه لیږی . او ددی کار دعملی کولو یواځنی لار پر دینی شخصیتونو دبیځا یه تورونو لگول دی .

۳-٤-په غفلت او لتی کی دخلکو دساتنی لار داد ، چی دهغوی نظر باید جنت او آخرت ته زیات واړول شی او سرونه یی په ذکر او دعاووکی را ګیر کړای شی چی د دی کار له پاره باید دصوفیتوب ډلګی او ټولی پیاوړی کړای شی . او شعرونه غزلی خصوصاً د مثنوی منظومی او دمحي الدین بن عربی کتابونه پکی خپاره شی **

۵- دمسلمانانو دحکومتونو او دولتونو دیکتاتوری باید داسی پیاوړی کړای شی چی خلکوته دیکتاتور واکمن دخدای سیوری او ظل الله وښودل شی .

٦- دلارو اوښارو نوید امنی باید لهو لعب ته دواکمنو او حکامو دتشویقولوله لاری پیاوړی شی حکومتونه په هوسونو او عیاشیو مشغول کړای شی چی دغلو او خاینانو له نیولونه یی پام بل خواشی له بلی خوا باید غله او سر غړوونکی پیاوړی کړای شی وسله دی ورکړشی او الی ګولی ته دی وهڅول شی .

۷- دعامی روغتیا دنشتوالی دادامی له پاره باید دخلکو له مغزو نه دعلاج فکر وایستل شی . او لاریی داده چی په مسلمانانو کی دجبر مذهب پیاوړی شی (څه چی خدای وغواړی ، همغه کیږی که خدای دیو چاد مرګ اراده وکړی ، علاج هیڅ ګټه نه لری ، او که خدای چاته شفا ورکول وغواړی نو درو درملو او طبیب ته هیڅ اړتیا نه شته)

۸- دښارونو دورانولو او دسیمو او هیوادونو دړنګولو له پاره په دریمه او څلورمه ماده کی راغلی ټکی عملی شي خلك روحی او وچو معنوی اړخو نوته متوجه کړای شی . او عرفانیت او صوفی توب پکی خپور کړای شی .

۹- دواکمنو دمطلق العنانی او مامور ینو دخپلسری له پاره باید مسلمانانوته داوویل شی چی اسلام یواځی دعبادت دین او د قانون او

اداری تشکیلاتو له پاره پکی څه نه شته څکه پیغمبر صلي الله علیه واله وسلم او اخلافو یی اداره ، وزارت او قانون نه درلود.

۱۰- د مسلمانانو د اقتصادی رکود درامنځته کولوله پاره باید دومره هڅه وشی چی زراعتی پیداوار یی وسیځل شی او تجارتی بیړی یي په سمند رونوکی ډوبی کړای شی ، پر ښارونو او لویو بازار ونو اور ولګول شی ، او داسی نقشی جوړی شی چی سمسوری زراعتی ځمکی یی شاړی شی او دخلکو د خښاك او په زهر جنی شی .

۱۱-داسلامي هیوادو دپوځي تشکیلاتو دګډوډ ولو له پاره باید حکومتونه او دهغوی پلویان فساد ، شرابو او عیاشی ته راښکل شي چه ټوله (ملي) بودجه پر خپلو شخصي چارو او ساعت تیری ولګوی اود پوځ دسمبا لولو او وسلی داخیستوله پاره ورسره پیسی پاتی نه شی.

۱۲- په اسلامی ټولنوکی دښځی د سپکاوی په باب هڅه وشی او ښځه باید په ټولنه کی داسی وښودل شی چی څه ارځښت نه لری ، هر څه یی بد ډی او په ټولنه کی یی هیڅ حد او حق نه شته.

۱۳- د دوی داستوګنی دمحیط دککړتیاله پاره باید داوبو د زیاتوالی مخنیوی وشی او د اوبه خور سر چینی یی ورانی کړای شی .

خو کومی طرحی چی په دغه کتاب کی دمسلمانانو دپیاوړتیا او قوت دعواملو دله منځه وړلو په باب ذکر شوی وی داوی :

۱- کورنی امتیازات اونژادی تبعیضونه او جغرافیایی او ژبنی امتیازات پکی زیات اورواج کړای شی . او وریسی دهر مسلما ن ملت هغه ملی او تاریخی سوابق باید ورځرګند کړای شی چی له مسلمانیدو نه مخکی یی درلودل . او په اصطلاح دهری ټولنی د ملیت غوښتنی حس له اسلام نه مخکی ملی اصولوته دغاړی ایښود په نامه وپارول شی، مثلاً مسلمانانو ته په مصر کی د فرعونیانو تاریخچه او د قبطیانو د تمد ن

سوابق په ایرا ن کی دمجوسیانو او په عراق کی دکلدیانو او آشوریانو تاریخی سوابق په مخکی کیښودل شی او په دی توګه دمسلمانو ملتو ترمنځ اختلاف رامنځته شی .

۲- په مسلمانانوکی شراب ، جواری ، فحشا او دبد ځناورغوښه زیاته کړای شی او ددی هدف دترلاسه کولوله پاره باید په اسلامی هیوادو کی له مذهبی اقلیتونو خصوصاً یهودو او مسیحیانو سره مرسته وشی چی په مسلمانانوکی دغه چاری عامی کړی . اودبریتانیا دمستعمرو وزارت باید د دی نقشی له پا ره زیاتی پیسی بیلی کړی .او په اسلامی هیوادو کی د دغو مفاسد و دخپرولوله پاره خاص خلك او کارمندا ن وګماری او هرچا چی په دی برخه کی دپام وړپر مختلك وکړ دوزارت له خوا دی ارځښتناکی جایزی ورکړی شی ، چی ډیر ژردغه خلورو اړه فسادونه په اسلامی هیوادوکی خپاره شی . او په اسلامی هیوادو کی دبریتانیا د دولت میشته کار مندا نو(لکه دسفارتونو کارمندانو) ته امر وشی چی دمسلمانانو په مخکی دی شرابخوری ، جواری او فحشا وکړی او که کله داسلامی حکومتونو له خوا بد ګڼل کیږی دبریتانیا دولت دی یی بشپړ ملاتروکړی پردی څلورو فسادو سر بیره په مسلمانانوکی په هره وسیله چی وی سود رواج کړای شی : ځکه سود مسلمانانو ته داقتصادی ماتی پررامنځته کولو سربیره د قرآن دقوانینو دمخالفت جرأت هم ورکوی ، ځکه کله چی یی له دغه ستر قانون سره چی قرآن یی سخت ټینګار کوی مخالفت وکړد نورو قوانینو په وړاندی هم دتخلف جرات پیداکوی . د دي نقشی دعملی کولو له پاره باید لومړی مسلمانانوته واورول شی چی دوه چنده سود حرام دی (دیوی په مقابل کی دوه اخیستل حرام دی) ځکه خدای فرمایلي دی:

ال عمرا ن / ۱۳۰ آیت: لا تأکلوا الربوااضعا فاً مضا عفه (څو چنده سود مه خوری) یعنی له دوه چنده نه کم حرام نه دی .

۳-٤- له مذهبی علما وو او پوهانو باید دمسلمانانو ارتباط کمزوری شی او د دی کارله پاره باید پر علما و وزیات توروونه پوری شی او ځینی خلك وګمارل شی چی داسلامی علما وو په جامه کی ډیر ناوړه اعمال وکړی چی خلك پري بی باوره شی . او له دغو مامورینو څخه ځینی باید دمصر په الازهر ، آستانی په لوی پوهنتون او دنجف په علمیه حوزه کی شامل شی .

له دینی علما وونه دخلکو دلری کولو له پاره بله وسیله دمستعمرو دوزارت دکارمندانو په وسیله د هلکانو مدرسو تا سیسول دي په دغو مدرسو کی باید له لومړی سرنه مسلما ن دعلما وو او اسلامی روحانیو نو مخالف وروزل شی .او د دوی بدی ورته په ګوته کړای شی او ورته وښودل شی چی داعلما په مزو چړ چو او په عیش وعشرت دملت دپیسو په لګو لو اخته دی .

۵ ـ دجهاد دفرضیت په برخه کی باید مسلمانان په شك کی واچول شی او ورته وویل شی چی جهاد یواځی د پیغمبر «صلی الله علیه وسلم » په وخت کی او دهغه «صلي الله علیه وسلم » سیوری لاندی فرض و او اوس نه دی .

٦- د کافرو د نجس ګڼلو عقیده باید د شیعه ګانو له مغزونه وایستل شی او دا استدلال یی په فکر کی کیښودل شی چی قرآن د اهل کتابو په باب فرمایلی چی :

و طعام الذین اوتوا الکتاب حل لکم وطعامکم حل لهم . (مائده /۵)

(او د اهل کتابو خواړه تاسی ته حلال دي او ستاسی خواړه هغوی ته حلال دی)

او د پیغمبر خو په خپله یوه ښځه «صفیه » یهودی او بله یی «ماریه» نصرانی وه ، نو څنګه کیدای شی چی د پیغمبر ښځه دی نجسه وی ؟

۷- مسلمانا ن باید په دی خبره ټینګ کړای شی چی : له اسلا م او مسلمانی نه مراد مذهبی توب دی یهودی مذهب وی که نصرانی او یا محمدی، ځکه قرآن د یوسف «علیه السلام » له خولې را اخیستی دی چی له خدای نه یی سوال وکړ چی :

یوسف آیه / ۱۰۱: تو فنی مسلما (خدایه ما مسلما ن مړکړه)

په داسی حال کی چی یوسف «علیه السلام» دمرګ په وخت کی بوډا او محمد «صلی الله علیه وسلم » لانه و. او ابراهیم «علیه السلام » او اسما عیل «علیه السلام » له خدای نه وغوښتل :

بقره /۱۲۸: ربنا واجعلنا مسلمین لك « پروردګاره ! مونږ «دواړه » مسلما ن وګرځوه ».

او دقرآن دوینا له مخی یعقوب «علیه السلام » خپلو زامنوته وویل ،

بقره / ۱۳۲: فلاتموتن الاوانتم مسلمون (مه مری ، مګرمسلما ن ومری)

۸- او دافکر هم باید له شیعه ګانونه واخیستل شی چی په خپلو ښارونو کی د کلیسا ګانو دجوړو لو مخنیوی کوی . ځکه قرآن اهل کتابوته وایي :

حج / ٤٠: ولو لا دفع الله الناس بعضهم ببعض لهدمت صوامع وبیع وصلوات

« که خدای ځینی په ځینونورو دفع کړی نه وای نو صو معی (مسیحی معبدوته) او بیع (یهودی معبودونه) او صلوات (مجوسی عبادت ځایونه) به ړنګ شوی وای » .

پیغمبر «صلي الله علیه وسلم » او خلفا ویی دغه ځایونه نه ورانول ، بلکی درناوی یی کاوه . داسلام له نظره عبادتځا یونه محترم دی .

۹-

په دغو حدیثونوکی چی دمسلمانانو ترمنځ مشهور دی : اخر

جواالیهودمن جزیرة العرب (یهود له جزیرة العرب نه وباسی)
ولایجتمع دینان فی جزیرة العرب (په جزیرة العرب کی دوه دینونه نه ځا یبږی) باید شك پیدا کړای شي . او پر هغوی داومنل شی چی که داحدیثونه صحیح وای نو پیغمبر «صلی الله علیه وسلم » به یهودی او نصرانی ښځه نه کوله . او د طلحه «رضی الله عنه » صحابی ښځه به یهودی نه وای ، او دنجرا ن له نصارا ووسره به یی راکړه ورکړه نه کولای او دجزیی تړون به یی سره نه کاوه .

۱۰- مسلمانان باید له عبادت نه منع کړای شی او ورته وویل شی چی خدای ستاسي له عبادت او اطاعت نه بی نیازه دی خصوصاً دحج په برخه کی باید مسلمانان په هره وسیله چی کیدای شی د حج له اداکولونه رامنع کړای شی او اصلاً هر هغه عبادت نه منع کړای شی چی په یوه خاص ځای کی دراغونډید و او ددوی د خپلمنځی مینی اوالفت سبب کیږی لکه د جماعت لمونځ ، دویراو ماتم په غونډوکی ګډون اودامام حسین « رضی الله عنه » عزا داری . او اصلاً باید د جوماتونو، حسینیو او دعلمی او دینی مدرسو له جوړولو او دکعبی دودانی او د پیغمبر «صلي الله علیه وسلم » او مسلمانولو یانو دقبرونو ودانولو سخت مخنیوی وشی .

۱۱- دخمس د وجوب په باب باید شیعه ګانو ته شك واچول شی او وروښودل شی چی خمس یواځی په هغو جنګی غنایمو کی دی چی دجنګ له میدانه راوړل شی اوپه هغه عاید پوری څه اړه نه لری چی کسب او هنر نه تر لاسه کیږی او پردي سر بیره شیعه ګان باید پدی شك کی پری ایستل شی چی خمس باید مستقیماً پیغمبر « صلی الله علیه وسلم » یا امام ته ورکړشی ، نه کوم دینی عالم او مذهبی مرجع ته.
او له بلی خوا یی دا باید غوږوته ورسول شی چی علما په دغه ورکول کیدونکی خمس ځانته کورونه، ودانی او مانی جوړوی ستاسی په چارو

کی یې نه لګوي.

۱۲- مسلمانان باید دخپلو ټولو اسلامي عقاید و په باب شکمن کړای شي او داورته وویل شي چې اسلام یود استبدادي نظر خاوند دین دي او یوداسې دین دی چې عمل پرې نا ممکن دی، همیشه ترې سر غړول کیږي او دلیل یې په اسلامي هیوادو کې دغه ټولې غلاړی او ګډوډی دي .

۱۳- د عقیدې ، فکر او سلیقې له مخې باید د پلرونو او زامنو تر منځ بیلتون پیدا کړای شي زامن دپلرونو له روزنې نه ووځي او بیا به نوي ځوانان زمونږ د روزنې لمن ته راپریوځي. او په آسانۍ به وکړای شو چې له اسلامي افکارو د اسلامي علماؤ له لمنې یې را بیل کړو.

۱٤- هر څنګه چې وي باید مسلمانه ښځه له پردې نه راوایستل شي او په مسلمانو ښځو کې بې سترې رواج کړو او د ستر د لرې کولو له پاره باید ورته وویل شي چې برقع او څادرې د اسلام حجاب نه دی څادر او څادرې له اسلام نه د مخکې ایرانیانو جامه ده او برقع عباسي خلفاوو مسلمانانو ښځو ته راپیدا کړې ده. دا هم څه اسلامي لباس نه دی. د اسلام د صدر خلکو د پیغمبر «صلی الله علیه و سلم» ښځې لیدې، ښځې د نارینه وو په ټولو چارو کې شریکې وې.

نو چې کله ښځې له پردې نه راووتې نران او ځوانان پرې زړونه بایلې بیا نو کورنیو ته فساد په خپله ورننوځي د دې نقشې د عملي کولو له پاره باید لومړۍ هڅه وشي چې په اسلامي هیوادوکې نا مسلماني ښځې له پردې نه راووځي چې مسلماني ښځې یې پر پله رواني شي.

۱۵- د جمعې (جماعت) د لما نځه د له منځه وړلو له پاره له دې لارې کاروا خیستل شي چې د جوماتونو په امامانو پورې دداسې فساد تور پورې شي، چې خلکو ته آسانه ثابت کړې شي او د امامانو او مقتدیانو تر منځ اختلاف پیدا کړې شي.

۱٦- د پیغمبر (صل الله علیه وسلم) اود دین د لویانو قبرونه او حرمونه د مسلمانانو د پیاوړتیا ستر عامل دي، د هغو د له منځه وړلو هڅه پکار ده او خلك د دغو حرمونوله زیارت نه باید داسي منع شي چي ورته وویل شي، د پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) په وخت کي دغه حرمونه نه وو؛ نو تر اسلامي شریعت وروسته یي جوړول په اسلام کي یو بدعت دي. له بلي خوا ددغو قبرونو په اصلیت کي شك پیداکول پکار دي، چي د پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) قبر دلته نه بلکي په "ابوا" کي د خپلي مور تر څنګ دي او ابوبکراو عمر(رضی الله عنهما) هم په بقیع کی ښخ دی او د عثمان « رضي الله عنه » قبر هم نه دی معلوم د علي(رضی الله عنه) قبر په نجف کي نه په بصره کي دي. او په نجف کي هغه قبر د مغیر بن شعبة (رضی الله عنه) دي. او د حسین (رضی الله عنه) سر هم په مسجد حنانه کي ښخ دي او تنه بي معلومه نه ده چي چیرته ده ؟ په کاظمین کي هم ددوو عباسي خلیفه ګانو قبرونه دي. نه د موسي بن جعفر او امام جواد (رضی الله عنهما) په مشهد کي هم د هارون قبر دي نه د امام رضا (رحمة الله علیه) او په سامرا کي بني عباس خلیفه ګان ښخ دي نه امام هادي او امام عسکري (رحمة الله علیهما) او باید په بقیع کي د ټولو قبرونو ودانی او پنجري له منځه یوړل شي او له خاورو سره خاوری شی .

لنډه داچی ددغوټولو حرمونو ، زیارتونو او ګنبدو چی په اسلامی ښارونو کی د دینی لویانو د قبرونو په نامه دی له یو مخی ړنګول پکار دی .

۱۷- د سیادت او له پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) سره د تړون مسئاله باید د مسلمانانو له منځه ورځی . ځکه چی خلکو ته له دي امله چی له پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) سره تړون لری درانه کتل کیږی، او په لیدو پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) وریادیږی، او په

مسلمانانو کی دپیغمبر (صلی الله علیه وسلم) یاد تازه کوی، د دغسی کسانو په نسب کی باید شك پیدا شی، او د دوی پرسرونو توری او شنی پګړی له دوی نه لری او ځینی نور غیر سید یی پرسرولو ته مجبور کړای شی. او ځینی غیر سید چی خلك یی هم پیژنی چی سیدان نه دی په ټولنه کی رامنځته شیچی د نورو په باب هم خلك شکمن شی. ورو ورو به دغه ظاهری امتیاز له منځه لاړ شی.

دغه راز همدا نقشه د مذهبی علماوو دله منځه وړوله پاره هم مؤثره ده ځکه که دغه لباس اوپګړی چی د هغوی ظاهری امتیاز دی، د شکل د یورنگی له امله تری واخیستل شو، د هغوی اجتماعی موقعیت ورو ورو له منځه ځی او ارځښت یی کمیږی.

۱۸- هر څنگه چی کیږی دغه حسینیی باید ورانی شی اودویر او عزا غونډی چی شیعه گان یی د حسین (رضی الله عنه) د درناوی او تعظیم په نامه جوړ وی بیخی منع شی، او یا یی لږ تر لږه واعظان او خطیبان کم کړاشی شی او د دی هدف د ترلاسه کولو له پاه باید واعظان اود حسینیو اوعزا داری د مراسمو چلوونکی تورن شی چی پردی ډلی هم د خلکو اطمنان او باور ورك شی.

۱۹- د مسلمانانو تر منځ د ازادیپه نامه بی بندوباری رواجول پکار دی. او دا ورته باید وویل شی چی «امر معروف او نهی عن منکر» نورمعنی نه لری او هر څوك باید په خپل کار کی ازاد وی او دا عبارت یی په ذهن کی کینول پکار دی چی:

«عیسی بدین خود و موسی به دین خود». یا دا چی یود بل په قبر کی نه ښخلی. د «امر و نهی »موضوع او مخنیوی د دولت وظیفه ده. خلك یو د بل په چارو کی د مداخلی حق نه لری.

۲۰- د واده مسأله باید مسلمانانو ته ډیره درنه وښودل شی او خصوصاً د ودونو د زیاتوا لی مخنیوي وشی او دا قانون بی باید تر منځ ځای

شی چی عرب د ایرانی ښځی د ودولو حق نه لری.
۲۱- د اسلام د ترویج مخنیوی باید وشی او مسلمانانو ته باید وویل شی چه اسلام د یوی قبیلی دین دی، او په عربو پوری اړه لری. لکه قرآن چی وایی.
زخرف/٤٤: وانه لذکر لك و لقومك . (او قرآن ستا او ستا د قوم له پاره ذکر دی)
۲۲- جا ریه صدقی او سنتونه لکه موقوفات (اوقاف) او خیریه مرکزونه باید ورو ورو له منځه یووړل شی. او له خلکو نه واخیستل شی.
او د دغو نقشو تطبیق د دولت وظیفه وګڼل شی. خلك د مدرسی، جومات، پالنځی او عبادتخانی د جوړولو حق نه لری. داد دولت کار دی او باید دولت یی نقشی عملی کړی.
۲۳- د مسلمانانو د قرآن په وضع کی باید لاس ووهل شی، لومړی باید له معنی او تفسیر نه واړول شی او یواځی لوست، ښکلو و یلواو د ژبی د تلفظ د اصولو زده کولو ته وهخول شی او په خلکو کی دا شك را پیدا کړای شی چی په قرآن کی لاس وهل شوی دی او هر څنګه چی کیدای شی له قرآن نه هغه آیاتونه وایستل شی چی د یهودو او نصاراوو په غندنه کی دی . او هرڅنګه چی وی غیر عربو مسلمانانو ته په خپلو ژبو(ترکی، فارسی او .....) ترجمه شی. او د عربی قرآن (اصل متن) له لوستو نه منع شی. او همدا رنګه پکی دا دود ورو ورو عام کړای شی چه له آذان، او د عربی دعاوو له لوستو نه ډډه وکړی او په خپله ژبه یی ولولی. او په احادیثو کی یی هم باید لاس ووهل شی چی مسلمانان د خپلو احادیثو او مذهبی اخبار په باب کرکجن شی.
د اهغه ټکی وو چی له هغه کتاب نه می یاد دی. د دی کتاب نوم و: « اسلام څنګه له منځه ځی ؟ » دغه کتاب زما د هدف په ترلاسه کولو

کی ستری نقشی را په لاس کړی کتاب مې چې سکر تر ته ورکاوه، خپله حیرانتیا مې ورته وویله ، هغه راته وویل :
په دی و پوهیږه چې ته ددی کتاب د نقشو په عملی کولو کی یواځې نه یې. بلکې وزارت ترننه ددی نقشو د تطبیق له پاره ستا په څیر د پنځه زرو کسو په ګمار لو او په اسلامی ټولنو کی یی په خپرو لو بریالی شوی دی. د مستعمرو وزارت غواړی چه ددی نقشو له پاره یو لك کسه پکار و اچوی . او که مو د خپلو جاسوسانو او کار مندانو شمیر نوموړی اندازی ته ورساوه نو اسلام به په اسلامی هیوادو کی راوپرځولای شو.
سکرتر زیاته کړه : زه تاته زیری درکوم چې مونږ له پیړی نه په کمه موده کی خپلو هیلوته رسیدای شو. که مونږ په خپله هغه وخت مړه وو. زامن به مو ډیر ژر دغه پرمختګ او قوت وويني. اود ا مشهور متل دی چې وایی: « نورو وکرل مونږ و خوړل مونږ یی کرو چې نور یی وخوری. »
هو: هغه وخت چې بریتانیا د اسلام په له منځه وړلو کی بریالی او پر اسلامی هیواد وبرلاسی شوه بیا به نو مسیحیت د اسلامی قدرتونو تربار لاندی د دولسو پیړ یو د خپل زغملي او خواری انتقام واخستلای شی.
سکرتر وویل : صلیبی جنګونو له اسلام نه انتقام وانه خیستلای شو او څه ګټه یی هم نه وه . لکه مغولو چې په خپلو ټولو بی رحمانه وژنوسره هم اسلام له بیخه ونه نړولای شو، ځکه نقشه یې ناسنجیده وه.
یولې پوځی نقشی ئی عملی کړی . خو قدرت او اثرات ئی له واره له منځه لاړل .
خو اوس : زمونږ ستره امپراتوري د اسلام په له منځه وړلوکی له یوی سنجیدلی او د قیقی نقشی او له یوه اوږده انتظار سره پرمخ ځی ،مونږ چه پوځی بریدته اړتیا لرو، دغه نقشه به مو آخرعملی کیږي خود ا به

هله کیږي چې مونږ په خپله اسلام له معارفو او حقایقو سره له منځه یوو ړلای شو.

په آستانه کې د عثمانی دولت سیا سیون ډیر زورورډی او په عربی هیوادوکی یې همدا زمونږ نقشې د خپل استعمار د پیاوړتیا د پاره عملی کړې دی، د کوچنیانو دروزنی له پاره یې مدرسې جوړې کړې دی چې هلکانو ته پکې د خپل ګرانښت او محبوبیت درس ورکوی.او په اسلامی ښارورنو کې یهودی کلیساوی د نورو په لاسو جوړوی .او شرابخوری ، جواری او فحشا وی پکی خپری کړې دی او ځوانان ئې د دینی عقاید وپه برخه کې له شك اوتردیدسره مخ کړې دی اود حکومتونو او عربی واکمنو تر منځ یې شخړې رامنځته کړې دي . او ښکلې مسیحی نجونی یي د لویانو او اصیلو په کورینو کې ځای پرځای کړې دی چې دغه ټولی نقشی په دغو هیوادو کی اسلام له بیخه نړوی .

اووم یادداشت

سکرتر دوهم راز«سِر» داراوښود چی یوه پنځوس مخیزه کتابچگی یی راکړه چی پکی په یوه پیړی کی د اسلام او مسلمانانو د ځپلومختلفی نقشی رسم شوی وی او مطلب یی داسی ښودلی و چی ددغو نقشو په عملی کولو سره یوه پیړی وروسته له اسلام نه هسی یو کیسه جوړیده ، البته د رسالی مخاطب دوزارت رئیسان ، سرپرستان ، جاسوسان او کارمندان وو.

سکرتر درسالی د ساتنی او د مطالبو د پټولو سخته ټینگتیا را باندی وکړه ، چی دغه نقشی مسلمانانو ته ونه رسیږی اوهغوی زمونږ پرخلاف نقشی جوړی نه کړی.

درسالی لنډیز داو:

لومړی فقره: له تزاری روسی امپراتوری سره پرپراخواسلامی سیموبخارا، تاجکستان ، ارمنستان او خراسان د برلاسی له پاره مرسته باید وشی ، او همدارنگه له دغی امپراتوری سره له ترکیې سره د نښتو سر حدی سیمو په لاندې کولو کی مرسته پکارده.

دوهمه فقره: له فرانسی او روسیې سره یو تړون په کاردی چی د اسلامی نړی په ځپلو کی گډه نقشه جوړه کړي.

دریمه فقره : د عثمانی دولت او ایران تر منځ سختی شخړی باید رامنځ ته کړای شي او د فارس او ترك داختلاف او رته لمن ووهل شی.

ددواړو هیوادو سرحدی سیمو پرتی قبیلي باید په خپلو کی واچول شی

او دا اختلاف باید په ټولو اسلامي ښارونو کې دنویو مذهبونو یادزړو اختلافي مذهبونو د تجدید له لارې راپیدا کړای شي.
څلورمه فقره:- د یوې ژورې نقشې د عملي کولو په برخه کې داسې یو کار کول په کار دي چې د ځینو اسلامي ښارونو حکومتونه د غیر مسلمانانو په لاس کې پریوځي . مثلاً مدینه د یهودو لاسته ورشي. اسکندریه مسیحیانو ،یزد زردشتایانو، عماره ستورنمانځو نکو ، کرمانشاه علی اللهیانو او موصل یزید یانوته . او دفارس خلیج جزیروته د ځینو هندوانو تر مهاجر کولو وروسته باید هغه سیمه هندوانو ته وسپارل شي. طرابلس د دروزیانو، قارص د علویانو او مسقط خوارجو او ناصبیانو ته ورکړای شي. او دغه ټول نامسلمان حکومتونه له مالي او پوځي پلوه پیاوړي کړای شي. او یو شمیرانګلیسي مشاورین د بریتانیا د اهدافو د تر سره کولو له پاره په دغو سیمو کې ځای پر ځای کړای شي، او دغه هر حکومت باید د خپلې خاورې او اوبو پراخولو او زیاتولو ته ولمسول شي چې په دې توګه ټول اسلامي هیوادونه په خپلو کې سره وخوري.
پنځمه فقره : څومره چې کیدای شي د عثماني او ایراني دولتونو د تجزیې له پاره نقشې جوړې شي، چې پروړو او زیاتو هیوادوو ویشل شي اود هند په باب هم باید همدغه نقشه عملي کړای شي.
شپږمه فقره: په اسلامي ټولنو کې باید ظاهراً ښکلي او غلوونکي دینو نه او مذهبونه رامنځته کړای شي . او د هرې سیمې د جغرافیا او استوګنو د خصوصیاتو له مخې باید د دین له پاره نقشه جوړه شي مثلاً په شیعه سیمو کې باید داسې دین رامنځته کړای شي چې امام حسین « رضی الله عنه »خدای وګڼي او جعفرصادق « رضی الله عنه » او مهدي (عجل الله تعالی فرجه) ونمانځي اود علي بن موسی « رحمته الله علیه » عبادت وکړي دلوړې دین له پاره مناسب ځای کربلا ،دوهم

له پاره اصفهان ، دریم له پاره سامراودڅلورم له پاره ښه مناسب ځای خراسان دی.
له بلی خوا دسنیانو دغه څلور مذهبه باید په څلورو دینونو داسی بدل شی چی په خپلو کی سره هیڅ رابطه ونه لری ، او په کتابونو کی ئې داسی لاس ووهل شی چی د هر مذهب پیروان یواځی په خپله ځانونه واقعی مسلمانان وګڼی او نوروړته دقتل وړکافر ښکاره شی.
اوومه فقره : په مسلمانانو کی راز راز مفاسد لکه زنا ، لواطت، شراب او قمارړرواج کړای شی.
چی ددی کار له پاره اسلامی ملکونو کی اوسیدونکی غیر مسلمانان مناسب خلك دی . او له همدوی نه باید ددی نقشی د عملی کولو له پاره زیاتی ډلی په کار واچول شی .
اتمه فقره : داسلامی هیوادو د مقام اوکرسی خاوند ان باید وپیرل شی. او یا له ځینو لارو هغه کسان و ګمارل شی چی په وزارت کی زمونږد هیلو تر سرکوونکی دی. او تر وسه وسه باید داسی یو کار وشی چی په هر اسلامی ښار کي غیرمسلمانان واکمن وی .او ددی غرض له پاره ځینی غیرمسلمان خلك مسلمانان وښودل شی او په دغو مرکز ونو کی وټاکل شی چی زمونږ هیلی پری ترسره شی .
نهمه فقره : تروسی وسی باید عربی ژبه له منځه یوړل شی او غیر عربی ژبو لکه فارسی ، کُر دی او پښتو ته وده ورکړی شی . او په عربی کی غیر عربی اصطلاحات ننه ایستل شی او ذاله قرآن او حدیث نه دمسلمانا نو حتی عربو دلری ایستلو ستره نقشه ده .
لسمه فقره: په کار ده چی دواکمنو تر څنګ هوښیار او ځیرك مشاورین وټاکل شی چی پر واکمنو دوزارت دحاکمیت سبب وي او ددی نقشی دعملی کولوله پاره غوره لار داده چی یو شمیر کسبا ن ددی کار له پاره په نوبت سره د چپړاسی او زر خرید مریی ، مینځی په توګه د

حکومتونو دستگاه ته واستول شي ، چې دخپلو زده کړوله مخې په هغه واکمن کې دومره نفوذ وکړي چې دهغه مشاور شي او دومره وړپوري ونښلي چې دبنګړي په څیر یې په لاس کې پروت وي .

یوولسمه فقره: په اسلامي هیوادو کې د مسیحي مبلغینو له خوا د مسیحیت تبلیغات زیات کړای شي. مبلغین په هر ډګر کې د محاسب ، طبیب اوانجنیر په نامه ولیږل شي په اسلامي ملکونوکې مدرسې، کلیسا ګانې ، او په کلیسا پورې تړلي خیریه مؤسسې جوړې شي او په مسلمانانو میلیونونه مسیحي کتابونه وړیا وویشل شي . او پردې ټکي باید ډیر زور واچول شي چې په مسلمانانو کې دهجري تاریخ ترڅنګ مسیحي کال هم په رسمیت وپیژندل شي او په اسلامي هیوادوکې په جوړو کلیساوو، صوامعوا ومعبد ونوکې د کشیشانو او راهبانو په جامه زیات شمیر جاسوسان ننه ایستل شي چې کاریې په مسلمانا نو کې دمسیحیت دنفوذ اسانتیا او داسلامي او لسونو دکورنیو اوضاعود اطلاع تر لاسه کول وي . او باید زیات شمیر پوهانـ وګمارو چې داسلامي ټولو خصوصیاتو ترپوهیدو وروسته په اسلامي تاریخ کې ګوتې ووهي او اړولي یې وښیي.

دولسمه فقره : د مسلمانو ځوانانو (نجونو او هلکانو) په خامولوکې باید هڅه وشي او په دیني عقاید و کې ورته شك پیدا کړای شي . او څومره چې کیدای شي دښوونځیو ، فاسد وونکو کتابونو مجلو ، جریدو، رادیویي خپرونو او غیر مسلمانانو«بای فرینډ او ګرل فرینډ» (ملګری او ملګري) له لارې یې باید اخلاق فاسد کړای شي . او دنقشې دعملي کولوله پاره یو شمیر مسیحي هلکان او نجوني په اسلامي هیوادوکې وګمارل شي چې د یو دام غوندې مسلما ن ځوانا ن ښکارکړي .

دیارلسمه فقره : داسلامی هیوادو کورنیو جنگونو او انقلابونوته باید لمن ووهل شی له غیر اسلامی یا گاونډیو اسلامی هیوادو سره داسلامی هیوادو سرحدی شخړی باید توندی کړای شی چی دمسلمانانو زور او به شی او خپلی راتلونکی ته یی پام نه شی او یو موټی نه شی . مادی زور او فکری استعداد یی په دی لارکی ولګیږی او فعال او متحرك وګړی او ځوانا ن یی په دغو کورنیو انقلابونو او اختلافونوکی له منځه لاړشی او خپلسری او اله ګوله پکی خپره شی .

څوار لسمه فقره : اقتصادی منابع خصوصاً د کرنی ځمکی ،روانی ویالی او نهرونه یی باید شاړ شی او بیکاری او لټی پکی عامه کړای شی او د بیکاروله پاره یی باید ځایونه جوړ شی او دنشه ایی شیانو اعتیاد پکی زیا ت شی .

په دغه رساله کی دغه څوارلس واړه فقری پوره شرح شوی او دهری فقری دعملی کولوله پاره راز راز نقشی ، عکسونه او شکلونه رسم شوی وی. ماله سکرتر نه د دی ټولو معلوماتو او اطلاعاتو دراپه لاس کولو له امله شکریه وکړه.

زه یوه میاشت نور هم په لند ن کی پاتي شوم ، دوزارت له خوا بیا حکم وشو چی دوهم ځل عراق ته لاړشم چی د محمد بن عبدالوهاب نقشه پوره کړم . سکرتر راته حکم وکړ چی پام کوه چی د د ی سړی په باب درنه ډیر لږ غفلت او تفریط هم ونه شی ، ځکه مونږ ته د جاسوسانو او کارمندا نو له خوا رارسیدلی مختلف را پورونه ښیی چی دی (محمد بن عبدالوهاب) زمونږ د اهدافو دتر سره کو لو پاره باوری سړی دی . او دوزارت دا غراضو له پاره دسورلۍ ښه آس دی .

سکرتر زیاته کړه : دا ځل چی له محمد سره مخ شوی خبره ورسره په ډاګه کړه ځکه په اصفهان کی زمونږ کار مندانو هم ورسره هر څه په میدان کی ایښی دی او د وزارت تجویز یی ورته ښکاره کړی او هغه هم

منلی دی . او مونږ دهغه داشرایط منلی چی هغه به دخپلو څرګند ونو او افکارو په باب د حکومتونواو علماوو له غندنی څخه ژغورواو دا چی پوره پیسی او وسلی به ورکوو او یو حکومت به ورته جوړوو، که وړوکی او په خپله سیمه (نجد) کی هم وی . د مستعمرو وزارت داهر څه منلی دی زه په دی خبره له خوشحالۍ نه په جامو کی نه ځاییدم سکرتر ته می وویل : اوس څه کار راسپاری ؟ او محمد د کومی نقشی عملی کولوته وهڅوم ؟ او شروع له کومه ځایه وکړم ؟

سکرتر وویل : وزارت یو شپږ ماده ای نقشه جوړه کړی ده چی باید محمد بن عبدالوهاب یی عملی کړی :

۱- په دی نامه دټولو مسلمانانو کافرول چی هغوی داسلام له واقعیت نه وتلی دی او دهغوی وینه بی ارځښته ده باید ووژل شی او مالونه یی ولوټل شی .او نر او ښځی یی باید د زرخرید و مینځو او مریبانو غوندی بندیانی (اسیر) کړای شی.

۲-په دی نامه دکعبی ړنګول چی داځای یو وخت دبتانو مرکز و. او دا دشرك او بت پرستی له آثار وځنی ده او له حج نه دمسلمانانو منع کول او بیدیانی او صحرایی عرب دحاجیانو وژلو او د هغوی مالونو او پیسو لوټلوته هڅول .

۳- له عثمانی حکومت نه سر غړونه او دعثمانی حکومت پر خلاف جنګ ته دخلکو لمسول ، او دپوځ او لښکر برابر ول. د دی غرض د تر لاسه کولوله پاره پکار ده چی لومړی د حجاز له اشرافواو مخورو سره مبارزه وشی او چی څومره کیدای شی زور او اثر یی کم شی .

٤-په دی نامه په مکه ،مدینه او دمسلمانانو په ټولو مقدسو ښارونوکی دګنبذو او حرمونوړنګول چی داټول دشرك نخښني دی ، او دغو ځایونو ته پناراوړل او ورسره مینه لرل له خدای سره دشریك پیداکول دي . او چی څومره کیدای شی دمسلمانانو په نظر کي دپیغمبر «صلی الله علیه

وسلم» او د ددین دلویانودشخصیت کمول او بی ارځښته کول ، ځکه دوی که هرڅه ووخومړه شول او لاړل او نوریی وجود دننی نړی په چاروکی مؤثرنه دی .
۵- په اسلامی ښارونو کی ویره، ظلم او اړودوړ په هره توګه چی وی باید خپور شی .
٦-په خلکو کی داسی قرآنونه خپرول پکار دی چي په ځینو احادیثو کی دشمیر زیاتوالی یا کموالی هم پکی ثبت وی .
سکرتر راته د نقشی په پای کی وویل : له دی درنی نقشی نه مه اندیښمن کیږه ته مؤظف یی چی دنقشی مواد دمحمد بن عبدالوهاب په لاس په اسلامی ټولنوکی وکري، که فرضاً په تر سره کولوکی یی پاتی راشی، نونور څوك به یی تر تا وروسته ترسره کړی د بریتانیا امپراتوری د اوږدی ساه په راښکلو عادت ده پرمختلل ورورو کیدای شی .
ښه فکر یی کړی و حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم)یو کس و دومره لوی انقلاب یی سرته ورسولای شو محمد بن عبدالوهاب هم یو سړی دی د دی نقشی په تر سره کولو کی یی څه خنډ دی؟ دی هم دا نقشه عملی او سرته رسولای شی .
څو ورځی وروسته می له وزیر او سکرتر سره خدای پامانی وکړه او له ښځی، زوی او دوستانو می مخه ښه واخیسته په خدای پا مانی کی می ګرا ن زوی راته وویل :
«بابا » ژر راشه سترګی می له او ښکو ډکی شوی او ښکی می ټینګی نه کړای شوی ښځی می راته وکتل او سخت یی وژړل .
عراق ته روا ن شوم او تر سختو کړاوونو له تیریدلو وروسته نیمه شپه وه چی بصری ته ورسیدم له واره د«عبدالرضاً » کورته لاړم ویده را پاڅید روغبړیی راسره وکړ په غیږ کی یی ونیولم زه ویده شوم سهار راته عبدالرضاً وویل : څو ورځی مخکی محمد بن عبدلوهاب بصری ته

راغلی ؤ ستاپوښتنه یی کوله څو ورځی و، لاړ او تاله پاره یی لیک راکړ. لیک می واخیست و می لوست لیکلی یی وو چی نجد ته ځم خپله دنجد پته یی هم لیکلی وه .

زه له واره په همغه ورځ نجد ته روا ن شوم له څو ورځو کړاو، سختی او مزله وروسته نجد ته ورسیدم او دمحمد ځای ته لاړم محمد په کورکی و ډیر کمزور ی شوی و څه می ورته ونه ویل خو هغه راسره داتړون وکړه چی زه به دی دمریی په نامه وښیم چی بازار کی می اخیستی خو چیرته می لیږلی و اوس له سفر ه راغی دوستانو ته یی داسی وښوده او خلکو هم زه په همدی نامه پیژندم .

لنډه داچی دنوی مذهب د څر گندو لو مقدمه مو جوړه کړه .

۱۱٤۳ هجری کال و له محمد بن عبدالوهاب نه خپل ملگری راتاوو و چی خپل نوی مرام یی څرگند کړ، لومړی یی په یو لړ نغښتو او سرسری خبرو مطلب خاصو دوستانوته وړاندی کړه او بیایی دمطالبو دپر اختیار او وینا او عقاید و په تو ضیح پیل وکړ ما هم په دی تر ځ کی خلك دهغه ملاتړته هڅول گڼ شمیر پلویا ن تری راغونډوو او ډیری پیسی موورکړي .

کله به چی دشیخ په ملگرو کی د دښمنانو دبرید له امله څه کمزوری او ماته گډیده ما به استقامت او ټینگارته هڅول او داسی به می ښوده چی زه په داسی حالاتوکی تردوی ټولو کلك یم ، د محمد تبلیغ او دعوت به چی څومره زیاتیدو همغو مره به یی دښمنا ن زیاتیدل او کله به محمد دومره سوړ شو چی دنقشی له عملی کولو نه به لاس پر سر کیدوته ساز شو اوله لاری به اوښتوته تیار شو، خو ما به یی دعزم دټینگولو هڅه کوله او ورته به می ویل:

محمد «صلی الله علیه وسلم » تر تا زیات دښمنا ن درلودل او تر تازیات مخالفت ورسره کیده دغه دښمنی او مخالفتو نه ستا دپرمختك

او لویی نخبنسه د ه هر سمون په لومړی سرکی له یو لږ مبارزو او برید سره مخا مخیږی .

لنډه دا چی له دښمنانو سره لاس وګریوا ن وو داسی جاسوسا ن مو پکی ننه ایستل چی دهغوی خلك وو خو په پیسوموا خیستل او کله چی به پر مونږ حمله کیده جاسوسانو به خبرولو او یا که دښمنانو زمونږ پر خلاف کومه نقشه جوړوله ، نو له واره به خبریدو او نقشه به مو شنډوله .

یوه ورځ خبر شو چی د محمد ځینی دښمنا ن د ده دتښتونی په تکل کی دی. ما یوه نقشه جوړه کړه چی د هغوی هر څه می بیکاره کړل او بی پته می کړل او خلك تری ټول خواره شول .

محمد ماته وعده راکړه چی دمستعرودوزارت ټول شپږ ګونی مواد به عملی کوم خو اوس یی دټولو عملی کول نا ممکن دی او دا ډیره لری ده چی کعبه ړنګه کړو که پرټول حجاز واکمن هم شو همدا راز دنوی قرآنکریم تر تیبول هم ډیر لری ښکاری .

محمد زیات له مکی او آستانی نه ویریده ویلی : که مونږ دا دواړه خبری ښکاره کړو دومره لښکری به را باندی راو خیژی چی که هر څه وکړو زور به مو پری ونه رسیږی او ما هم دهغه دا عذر و مانه ، ځکه دهغه وخت اسلامی فضا د دی دواړو خبرو دعملی کیدو تاب نه درلود.

څو کاله وروسته چی د محمد بن عبدالوهاب نقشه د عملی کیدو په درشل کی وه ، دمستعمرو وزارت وکړای شول چی محمد بن سعود (د درعیسي امیر) زمونږ په لوررامات کړی هغوی مونږ ته استازی راولیږه او له مونږ سره یی همکاری اعلان کړه او دنقشی لنډیز ددوومحمد انو (محمد بن عبدالوهاب او محمد

بن سعود) د پیوستون له امله عملی شو دمحمد بن عبدالوهاب د مذهب او د محمد بن سعود[13] د قدرت له امله دواړه د خلکو پر ذهنونو، هیواد ،شتمنی او ځانونو مسلط شول، ځکه تاریخ ثابته کړې چې دینی حکومتونه تر مذهبی پردی لاندی پر خلکو د تسلط له مخې تر مادی حکومتونو ډیر پیاوړی وی .

له دی امله نو زمونږ نقشه پیاوړی شوه او« درعیه » مو حکومتی پایتخت او مذهبی مرکز وټاکه او دمستعمرو وزارت په پټه له نوی حکومت سره دپیسو او بودجی مرسته کوله .

نوی حکومت ظاهراً یو شمیر مر بیان په بیه وپیرل دغه مربیا ن انګلیسی افسران وو چی دمستعمرانو په وزارت کی یی ددی کار زده کړه کړی وه عربی ژبه یی ښه روانه زده وه او په پارتیزانی او صحرایی جنګونوکي ښه تکړه شوی وو د دوی شمیر یوولس کسه و او دمحمد بن سعود ټولی یر غلیزی نقشی او پوځی حملی دهمدغو یوولس کسوله خوا جوړیدی او چی هره نقشه به مونږ دواړو محمدانوته ورکړه دوی به له ډیر لږ تخلف پرته تر سره کوله البته ځینی وخت به چی پر کومه خبره یا پیښه دوزارت له خواځه خاص دستور رانغی نو بیا به زمونږ تر منځ مناقشی کیدی، خو دغه مناقشی به هسی لاسی او مصنوعی وي او په اصل هدف کی سره یوه خوله وو .

مونږ دعربی قبایلو نجونو سره ودونه وکړل او څه چی مونږ ته حیرانونکی وو هغه له میړه سره دمسلمانی ښځی اخلاص او سپیڅلتیاوه .

مونږ په دغوودونو سره په قبایلو کی داسی ور ننوتوچی مونږ ته

دقدرت یوه اډه شوه او دغه قدرت ورځ پر ورځ زیاتیده او مرکزیت یی ورځ په ورځ پیاوړی کیده. که ځینی ناوړه پیښی رامنځته شوی نه وای زما له دغی کرلی زړی نه به یوه میوه داره ونه جوړه وای او سل فیصده مطلوبه میوه به یی کړی وای .

پاورقی

(۱) گران لوستونکی پوهیږی چی د دی پوښتنی ربنتینی ځواب دانه دی بلکی دادی چی کافر د مسلمان له نظره ځکه ناولی دی چی دغه ناولتیا له کافرنه دمسلمان دبوږن او تر هي سبب شی . او د هغه ټولو کړووړوته په بده سترگه وگوری چی په دی توگه پردی او اجنبیان تر اثر لاندی رانه وستلای شی .

(۲) دا خبره به ښاغلی همفري ته دروغ ښکاری خو انجیل مسیح (علیه السلام) شرابخورځه چی شرابساز هم گڼی . انجیل یو حنا دویم باب له ۱-۱۲ جملی :

«په دیر شمه ورځ په قانای جلیل کی واده ؤد عیسی علیه السلام مور هم پکی وه عیسی (علیه السلام) او شاگردان یی هم ورغوښتل شوی وو او چی څه وخت شراب خلاص شول د عیسی علیه السلام مور عیسی (علیه السلام) ته وویل : شراب نه لری ؟ عیسی (علیه السلام) ورته وویل : یه ښځی ستا په ما پوری څه کاردی ؟ زما وارلانه دی راغلی موریی نو کرانوته وویل: زه چی څه درته وایم هغه وکړی. هلته د یهودو د پاکولو لپاره شپږ د برینی پیالی ایښی دی . چی دوه یا دری کیله مایع پکی ځاییدله عیسی (علیه السلام) ورته وویل : پیالی له اوبو ډکی کړی بیا می ورته وویل : واخلی او د مجلس رئیس ته یی یوسی د مجلس رئیس چی شراب شوی اوبه وڅکلی ونه پوهیده چی له کومه راغلی خو نو کران یی پوهیدل د مجلس مشر دواده هلك (زوم) ته مخ ورواړوه ویی ویل : خلك ښه شراب مخ کی راوړی او تر مستی وروسته نابنه راوړی؛ خو تا ښه شراب

تر اوسه ساتلی وو همدا د عیسی علیه السلام لومړنی معجزه وه چې په فانای جلیل کی یی وښوده . او خپل زور یی څرگند کړ، نو شاگردانو یی پری ایمان راووړ. »

انجیل متی ۲٦ باب -« ٦۲ » او « ۷۲ » جمله - انجیل مرقس - ١٤ باب ، ۲٤- ٥۲ جمله ، انجیل لوقا

۲۲ باب --- ۱۷ جمله :

او چی ډوډی یی خوړ ه ، نو عیسی علیه السلام ډوډی راواخیسته د برکت له پاره یی ټوکره ټوکره کړه او دوی ته یی ورکړه ویې ویل: واخلی وخوری دا زما جسد دی او پیاله یی را واخیسته شکر یی وایست او دوی ته یې ورکړه او ټولو تری وڅښل ، او ویې ویل دامی د نوی عهد وینه ده ، چی په ډیرو ځایو کی تو یيږی ، تاسوته وایم چی تر دی وروسته به دانگورو څو ښه تر هغی ونه خورم چی تر څویی دخدای په ملکوت کی ونه څښم ، د دی خبری دا مطلب دي چی عیسی علیه السلام (آسمان ته د تگ) تر شپی پوری شراب (د انگورو څوښه) څښل.

۳ - داسی سپین سترگی له یوه کینه کښ مسیحی نه لری ده ؛ خو ځنگه چی می د دغو یاداشتونو له لیك او ترجمی نه بل هدف درلود ، نه می غوښته چی د یاداشتونو په متن کی لاس ووهم نو ددوی لیکنی می کټ مټ راواخیستی .

خو تاسی ویښ او سترگور مسلمانان پوره خبر اوسی ، چی د پرونی نړی په ناوړه وضع کی د اسلام او رسول اکرم (صلی الله علیه وسلم) دلوروښوونو پرمختگ یواځی یوعامل درلود اوهغه داچي هغه معارف اوقوانین دستم ځپلی ملت لـه خطري اوقلبي غوښتنو سره سم او له جنایت او شهوت نه لری وو ، خو د ننني مسلمانو ملتونو د بد مرغیو او بد بختیو علت د هغو حقایقو او معارفو تر پښو

لاندی کول دی. او دغه غربی مسیحی اولسونه چی د یو دوو پیچونو په جوړولو سره دا ګڼی چی بس د تکامل او انسانی قدرت وروستی حد ته رسیدلی دی. او مسلمانان د ذلت او خواری په کنده کی پراته دی، پریده چی د هغوی د شهوت او د قدرت د مستی دور تیر شی . او دغه حیرانونکی صنعت یې نور هم دومره پر مخ لاړشی چی هستی او وجود یی د نابودی په خطر کی وغورځوی او د اتومی وسلو په استعمالولو سره چی د صنعت او قدرت د پر مختلګ محصول یی دی هره شیبه د خپلی نیستی او ریز مریز کیدو ننداره پخپلو سترګو وکړی بیا به نو له ناچاری له دغه ، ستومانه او له فساد ، ویری او ډاره ډك ژوندانه نه د خلاصون له پاره اسلام ته پنا ه راوړی .

٤- دا خبره د پیغمبر اکرم (صلی الله علیه وسلم) د دستور پر خلاف ده ځکه د اسلام د پیغمبر دستور دا دی چی دفتنی درا څرګندیدو په وخت کی باید هر ناآشنا او نامعلوم شی د مسلمان له نظره شکمن او مشکوك وی او تری ډ ډه وکړی او دا آیت : (یا ایهاالذین آمنوا اجتنبو کثیراً من الظن:ای مؤمنانو ! له ډیرو ګومانونو نه ډ ډه وکړی) د هغه چا په باب دی چی مؤمنوالی یی ثابت وی او له هر اړخه پیژندلی اوسی.

٥- داهل سنتو دوینا له مخی د شیعه و ټول د ولس ګونی امامان د پیغمبر صلی الله علیه وسلم له خوا غوره شوی وو . شیخ سلیمان حنفی دخپل کتاب ینا بیع المود په ٤٤٠ مخ کی دشیخ الاسلام موینی شافعی د « فرائد السمطین » په حواله له ابن عباس نه نقل کړي چي یوه ورځ یو یهودي دانشمند (نعثل) دپیغمبر صلي الله علیه وسلم حضور ته راغي ويي ويل : محمده (صلي الله علیه وسلم) ! زه درنه یو څو پوښتني کوم که ځواب دي راکړ ایمان درباندي راوړم او مسلمانیږم.

رسول الله صلي الله علیه وسلم وفرمایل : وایه ابا عماره ! ویل : محمده (صلي الله علیه وسلم) ! خداي دي راته تعریف کړه ، پیغمبر

صلي الله عليه وسلم وويل : خداي له هغه پرته چي په پخپله يئ ځان توصيف کړي پيژندل کيداي نشي. بيا يئ د خداي د معرفت اوتوحيد په باب يو څه توضيح ورته وکړه . ويل : ريښتيا دي وويل پوښتنه يى وکړه : د خپل وصي (خليفه) په باب راته څه ووايه : داسي پيغمبر ندي تير شوي چي وصي يي نه وي لرلي زمونږ پيغمبر موسي عليه السلام يو شع بن نون خپل وصي کړي و.

پيغمبر صلي الله عليه وسلم وفرمايل : زماوصي علي بن ابيطالب او زما دواړه لمسي حسن او حسين او په حسين پسي يي زوي علي بيا زوى يي محمد زوى يي جعفر زوى يى موسي په موسى پسي زوى علي زوى بي محمد زوى يي علي زوى يي حسن زوي يي حجت محمد مهدي دي اودادولس کسه وى.

يهودي وويل : داراته ووايه چه علي حسن او حسين به څنگه مري ؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل : علي به پر ککره له گوزارنه مري حسن ته به زهر ورکول کيږي حسين به حلا لوي.

ويل ځاي به يي چيرته وي ؟ ويل : په جنت کي له ماسره .يهودي وويل : اشهدان لا اله الا الله واشهدانك رسول الله واشهدانهم الا وصيا بعدك . ما داهر څه په پخوانيو کتابو کي لوستي . هغه کتابونه يي رسول الله ته ياد کړل .

٦- د اسلامی وحدت مساله دنړي دمسلمانانو ستره هيله ده ، او بيشکه چي د مسلمانانو د مشري او حاکميت سبب به شي . خو دبده مرغه کله له دغي مسالي نه ناوړه استفاده کيږي .ځيني دا گڼي چي اسلامي وحدت گڼي داعتقادي پولو له منځه وړوته وايي ؛ او دا غلط گمان دي ، ځکه څه چي د وحدت له پلوه ورته مسلمانان اړ دي . هغه دمسلمانانو اجتماعي او نړيوال وحدت دي . خو داجتماعي وحدت په صورت کي اعتقادي پولي بايد پوره پر ځاي وي .

۷- دغه حدیث داهل سنتو په ټولو لویو کتابونو کي لکه صحیح مسلم ۷ ج ، باب فضایل الصحابه ، فصل علي د مصر دمحمد علي صبیح چاپ ۱۲۳ مخ . صحیح ترمذي ۲ ج ، ۳۰۸ مخ . الصواعق امحرقه دابن حجر ۱۳٦ مخ ! د مسند احمد ٤ ج - ۳۷۱ او ۳۷٦ مخونو کي راغلي دي .

۸- مسند احمد حنبل ۱ ج - ۵۲ مخ او ۳ ج ۳۲۵ مخ

۹- فتح الباري ، في «شرح صحیح بخاري» - ۱ج ۳۰ مخ

۱۰- قرآن صریحاً فرمائي : کتب علیکم الصیام کماکتب علي الذین من قبلکم .

۱۱- محمد دمستر همفري مستعار نوم دي .

۱۲- داجمله داسلامي حکیمانو ، حکیمانه وینا بنکاري ، په حدیث کي راغلي جمله داده چي : العلم علمان علم الادیان وعلم الابدان (علمونه دوه دي؛ په دیني چارو پوري مربوط علم . اوپه بدنونو پورې مربوط علوم .

۱۳- محمد بن سعود سعودیانو د کورنۍ نیکه وه چې په ۱۱٤۷هجری قمری کال وهابی مذهبه شو او انګلیسانو د نجد حکومت پرګدۍ کیناوه او په ۱۱۷۹ هجری قمری کال مړ شو .

❖ د قرآن مجید په څلورو آیتونو کي په ډاګه د حضرت محمد صلوات الله علیه وسلم پیغمبری ته اشاره شوی ده:

۱- و ما محمدالا رسول قد خلت من قبله الرسل (آل عمران ۱٤٤)

۲- ما کان محمد ابا احد من رجالکم و لکن رسول الله (احزاب - ٤۰)

۳- و آمنوبما نزل علی محمد و هو الحق من ربهم (محمد -۲)

٤- محمد رسول الله و الذین معه اشد اء علی الکفار رحماء بینهم (فتح -۲۹)

★★ دلته چې لیکونکی د غزالي غوندې متکلمانو او یادمولانا جلال الدین بلخي غوندې عارفانو د کتابونو په باب کوم قضاوت کړی نو یا نپوهیږي او یا داچې نیت یې بد دی، دا ډول کتابونه یو لړ عملي اخلاق دي چې انسان تزکیې او پاکوالي ته رابولي او دانه ښایي چې مونږ تزکیې او د نفس تهذیب ته گوښه کیناستل ، رهبانیت او له ټولنې ځان لري ساتل ووایو .

PROPERTY OF ACKU 19205

خپرونکی : دملامشك عالم خپرونی